# د ا.ا.ج د لوړو زده کړو وزارت

# جهان پوهنتون

# د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

# اداري او ډیپلوماسي څانګه

د لیسانس دوري پایلیک

# په اسلام او نړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونو مقایسوي څېړنه

Ketabton.com

بشپړونکی: شاد الرحمن «ځاځی»

لارښوداستاد: برکت الله «آریوبی»

کره کوونکی: نعمت الله «صافی»

کال : ۱۳۹۸ ل.م

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډالۍ

د ژبړنې معنوي ارزښت تر ټولو د مخه خپل پلار جان، ګرانۍ مورجانې او ټولې قدرمنې کورنۍ ته چې د زړه کړو په بهیر کې په ځانګړې توګه څلورکلنې تحصیلي دوره کې را سره زښته زیاته مرسته کړې. او همدا رنګه قدرمنو ښوونکو د پوهې د ډګر ټولو هستیو او د هیواد د خپلواکۍ د لارې اتلانو او شهیدانو ته په پوره اخلاص ډالۍ کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مننلیک

الحمدلله د لایزال رب څخه ډېر شکر آداء کوم چې د دې څېړنې د ترسره کولو توان راکړ. او درود دې وي د بشریت پر ستر لارښود حضرت محمد (ﷺ) او دهغه په لارویانو چې د خپلو ځاني او مالي قربانیو سره یې د بشریت د ژغورلو لپاره د قلم اساس کېښود. همدا رنګه د کورنۍ له ټولو غړو د پوهنتون له محترم ریاست د رهبرۍ له غړو د لیسانس دورې د پایلیکونو له چارواکو د جهان پوهنتون له قدرمنو ښوونکو په ځانګړې ډول له ځوان تاند پیاوړي ښاغلی استاد برکت الله «آریوبی» څخه نړۍ مننه چې په دې څېړنه کې یې را سره نه ستړې کیدونکې هڅې وکړې چې په پایله کې د دې پایلیک په لیکنه بریالی شوم یو ځل بیا ترې نړۍ مننه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لنډیز

د مصؤنیتونو څخه مرام هغه امتیازات دي، چې په اسلام او نړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي استازو ته ورکول شوي. هغه ډول مصؤنیتونه چې د۱۹٦۱ژمنلیک پراساس منوونکي هیواد یې بهرنې دولت ته ورکوي ترڅو بهرنې نمایندګان وکولاي شي خپلې دندې په ښه صورت پرته له کومې ستونزي ترسره کړې. په اسلام اونړیو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونه کوم دي؟ په اسلام اونړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونو ډولونه کوم دي؟ او په اسلام اونړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونو حدود کوم؟ د دوغو پوښتنو لپاره احتمالي فرضیې مطرح کیږي. په اسلام او نړیوالو حقوقو مصؤنیتونه یو اصل په توګه پېژندلي دي؛ د دوې د ډیپلوماتانوځان، کورنی، مال، اسنادو او لیکنو نقلیه وسایل او نور. وسایل نه پلټل کېږي او د پوره مصؤنیتونو څخه برخمن دي او د هیڅوک د داخلیدو اوتیري حق نه لرې. او په منوونکي هیواد له هر ډول تیري څخه مصؤن دي؛ وسایل نه پلټل کېږي او د پوره مصؤنیتونو څخه برخمن دي او د هیڅوک د داخلیدو اوتیري حق نه لرې. او په منوونکي هیواد له هر ډول تیري څخه مصؤن دي او په اسلام او نړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مامورینو هغه کړنې محدود وې چې د منوونکي هیواد د ګټو پرضد وي؛ یا د د منوونکي هیواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه، یا د منوونکي هېواد ارزښتونو ته احترام نه درلودل، په اسلام کې مبناء له قرآن، سنت او نبوي حدیثونه دي. او د حقوقو مبناء یې عبارت دې له نړیوال عرف ، نزاکتونه ، دولتونو ترمنځ منل شوي اصلولونه او۱۹٦۱ژمنلیک. د دې څیړنې کې توصیفي اوتحلیلي طریقوڅخه ګټه اخیستل شوي ده. د معلوماتو او اطلاعاتو د جمع کولو په روش کې، د کتابونو،علمي مقالو و انټرنیټ روش څخه ګټه اخیستل شوي دي. په اسلام او نړیوالو حقوقو کې پرتلیز بحث په دې موضوع باندې ندې شوې موږ تر ډیره بریده پرتلیزه بحث لاندې نیولې دي. په موضوع کې څو منابعو څخه ګټه پورته شوی.د بیلګې په ډول: اسلام وحقوق دیپلوماتیک لیکوال محمد پورامینی،احمد جواد صدر ډیپلوماتیک او کونسلي حقوق، نړیوال عمومي حقوق محمد رضا بیګدلي او داسي نورو منابعو څخه ګټه اخیستل شوِی دي.


**بنسټي توري:** ډیپلوماتیک مصؤنیتونه، اسلام، نړېوال حقوق، قضایې مصؤنیت، مدنې مصؤنیت، ترونونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


**عنوان** **پاڼه**

د موضوع طرح کول ........ ۱

الف) د مسلې بیان ........ ۲

ب) څیړنې موخه ........ ۳

ج) د څیړنې اړتیا ........ ۳

د) د څیړنې پوښتنې ........ ۳

۱. اصلي پوښتنه ........ ۳

۲. فرعي پوښتنې ........ ۳

ه) د څیړنې فرضیې ........ ۳

۱ . اصلی فرضیه ........ ۳

۲. فرعي فرضیې ........ ۴

و) د څیړنې روش ........ ۴

ز) د څیړنې مخینه ........ ۴

ح) د څیړنې نوښت ........ ۵

ط) د څیړنې جوړښت (سازماندهي) ........ ۵

ی) د څیړنې خنډونه ........ ۵


## لومړی څپرکی

## مفاهیم او کلیات


لومړی مبحث-مفاهیم ........ ۷

لومړی مطلب- مفهوم پیژندنه ........ ۷

لومړی جز- د مصؤنیت پیژندنه ........ ۷

الف – د مصؤنیت پیژندنه ........ ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب – په اسلام کې د ډيپلوماتيکي مُصؤنيت لغوي پيژندنه........................................٨
ج - په اسلام کې د ډيپلوماتيکي مصؤنيت اصطلاحي پيژندنه.........................................٨
دوهم جز- په نړيوالو حقوقو کې مصؤنيت لغوی او اصطلاحی پيژندنه ........................١١
الف – د مصؤنيت لغوی پيژندنه پيژندنه په نړيوالو حقوقو کې ...................................١١
ب) د مصؤنيت اصطلاحی پيژندنه په نړيوالو حقوقو کې .........................................١١
دوهم- مطلب ...............................................................................................١٢
لومړی جز – د ډيپلوماټ پيژند نه ........................................................................١٢
الف) د ډيپلوماټ دندې ......................................................................................١٣
ب) د ډيپلوماټ ځانگرتياوې..................................................................................١٤
دوهم جز- د نړيوالو حقوقو پيژند نه........................................................................١٤
دريم جز- د اسلام پيژندنه....................................................................................١٥
دوهم مبحث -کليات...........................................................................................١٦
لومړی مطلب- په اسلام کې د يپلوماتيکي مصؤنيتونو تاريخچه او مبنا...........................١٦
لومړی جز-په اسلام کې ډيپلوماتيک مصونيتونو تاريخچه ..........................................١٧
الف-د نړی پاچاهانو ته د پيغمبرعليه السلام ليکونه اوسفيران ليږل...............................١٨
ب- د خلفاء راشدينو سفارتي او ديپلوماتيکي کړني ..................................................١٩
ج- د اسلامي فقهاوو په اند سفارت اوډيپلوماسي ......................................................١٩
دوهم جز-په اسلام کې ډيپلوماتيکي مصؤنيتونومبنا ..................................................٢٠
دوهمه مطلب- په نړيوالوحقوقوکې ډيپلوماتيک مصونيتونو تاريخچه او مبناء....................٢٤
لومړی جز-په نړيوالوحقوقو کې ډيپلوماتيکي مصونيتونو تاريخچه ................................٢٤
الف-پخواني يونان ............................................................................................٢٥
ب - پخواني او روم ..........................................................................................٢٥
دوهم جز-په نړيوالوحقوقوکې ډيپلوماتيکي مصؤنيتونومبناء ........................................٢٩
الف- د نماينده گۍ نظريه......................................................................................٢٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب - له قلمروڅخه د بیرونیت نظریه(خارج الممکتي) ........................................ ۳۲
ج- د خدمت د مصلحت نظریه ........................................................ ۳٤
د) د متقابل چلن نظریه .................................................................. ۳٥

## دوهم څپرکی

## په اسلام او نړیوالو حقوقوکې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونونه (تحلیل اوتجزیه)

لومړی مبحث –په اسلام اونړیوالو حقوقوکي کې د ډیپلوماتیکې مصؤنیتونو........................... ۳۹
لومړي مطلب- د ډیپلوماتیکي مامورینو مصؤنیتونه ............................................ ۳۹
لومړي جز- په اسلام کې د ډیپلوماتیکي مامورینو مصؤنیت ..................................... ۳۹
الف - جزائي مصؤنیت(خوندیتوب) ..................................................... ٤۲
ب - مدني او اداري مصونیت(خوندیتوب)................................................... ٤۳
دوهم جز-د ډیپلوماتیکي مامورانو مصونیت په نړیوالوحقوقوکي.................................. ٤۳
الف-د ډیپلوماتیکي مامورینوشخصي خوندیتوب ............................................ ٤٤
ب- د ډیپلوماتیکي مامورینو د کورنیو مصونیت(خوندیتوب) .................................... ٤٦
ج-د ډیپلوماتیکي اسنادواو لیکنو مصونیت(خوندیتوب) ...................................... ٤۷
دوهم مطلب-د ډیپلوماتیکي اماکنو(ځایونو)مصونیتونوڅیړل په اسلام اونړیوالوحقوقوکی........ ٥٤
لومړی جز-ډیپلوماتیکې ځایونه (اماکن) خوندیتوب ......................................... ٥٤
دوهم جز- ډیپلوماتیکي ماموریت ځایونوخوندیتوب .......................................... ٥٥
دوهم مبحث- په اسلام او نړیوالوحقوقوکې د ډیپلوماتیکي مصونیتنو حدود........................ ٥۸
لومړی مطلب - په اسلام کې د ډیپلوماتیکي مصونیتنوحدود .................................... ٥۸
لومړی جز- مدني مصونیتنو حدود........................................................ ٥۸
دوهم جز- قضایي مصونیتونو حدود ....................................................... ٦۱
دوهم مطلب - په نړیوالو حقوقوکې د ډیپلوماتیکي مصونیتونو حدود ............................ ٦۲
لومړی جز-په نړیوالو حقوقو کي د ډیپلوماتیکي مصونیتونو قضایی حدود.......................... ٦۲
ب ـد ارث په اړه دعوې.................................................................. ٦۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج – د یو ازاد فعالیت په اړه دعوا ........................................................... ٦٣
دوهم جز- په نړیوالوحقوقود ډیپلوماتیکي مدني مصونیتونو حدود ............................. ٦٣
پایله اخیستنه ........................................................................................ ٦٥
اخیستنې ............................................................................................ ٦٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوع طرح کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الف) د مسلې بیان

د مصونیتونو څخه مرام هغه امتیازات دي، چې په اسلام او نړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکو استازو ته ورکول شوي. هغه ډول مصؤنیتونه چې د۱۹٦۱ژمنلیک پراساس منوونکي هیواد یې بهرنې دولت ته ورکوي ترڅو بهرنې نمایندګان وکولای شي خپلې دندې په ښه صورت پرته له کومې ستونزې ترسره کړې. هغه ډیپلوماتیکي استازو ته ورکړل شوي مصؤنیتونه دي؛ چې ډیپلوماتیک مامورین په ټولو هیوادونو کي د امتیازاتو درلودونکي دي اودا امتیازات دوی د نورو وګروپه پرتله د ځانګړي مقام څخه برخمن کوي. دغه امتیاز د ټولوډیپلوماټانو لپاره مهم اوغټ امتیازدي چې دوي ته په واک کې ورکړل شوي دي، ترڅووکولای شي خپلې دندې په خپلواکه توګه پرته د کومې ستونزي اوفشارڅخه ترسره کړي. په ټولیزډول مصؤنیت په دې مانا چې لرونکي یې د منوونکي دولت د مامورینو اوقانون له تعقیب څخه په امان کي اوسي. یا په بل ډول د منوونکي هیواد قانون اوهغه مامورین چې قانون پلی کوي، نشي کولای چي د خوندیتوب لرونکي وګړي تعقیب کړي. یا په بل عبارت خوندیتوب په دې مانا د هغه شخص ځان، حقوق اوآزادۍ تیري ونه شي یا د شخص حقوق ترپښو لاندي نشي اودرناوي ورته وشي. پدې مانا چې دا جازې پرته څوک ور دننه شي. هرډول تیري د منوونکي هیواد له لورپه سفیر، ځان، مال، کورنۍ اوسفارت باندي منع ګڼل شوي اوهیڅوک حق د داخلیدوپرته له اجازې نشې کولاي سفارتخې ته ور دننه شي. که چیري ډیپلوماتیک استازي په داسې کړنولاس پوري کړې یا د منوونکي هیواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه وشي. نو نامطلوب عناصر منځته راځې په دغه صورت کې منوونکي هیواد د استوونکي هیواد بهرنیو چارو اطلاع ورکوي.

چې نوموړې سفیر یا استازي په دې تور باندې تورن شوی اواستوونکی هیواد کولای شي نوموړې شخص وزارت محکمه کړې؛ هو منوونکي هیواد نشي کولاي نوموړي شخص محکمه او تعقیب کړې. هو که چیري د هیوادنو ترمنځ کوم تړونونه شتون ولري چې، تورن شخص په منوونکي هیواد کې محکمه او تعقیب کړې؛کولای شي. مصونیت په ځیني وخت نقص(ماتیږي)هم په د بیړنیو اواستمراري حالاتو کې مثلا د اورلګیدو، د جګړې اود جګړې وسیلو دجاسوسي کول د منوونکې دولت پروړاندې او د سفارتخانې رئیس اجازې پرته ننوتل دعه د مصونیتونو د نقص لامل ګرځې.او هیڅوک باید پرته له اجازې دننه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب) څېړنې موخه

دا څیړنه دلاندو موخو په اساس ترسره شوی ده.

موخه اوهدف دغې څیړنې څخه عملي او نظري تحلیل دی. دنظری پلوه د علم پرخوالي او د عملی پلوه د سیاسیونو او محصلانو توجه ډیپلوماتیک مصؤنیتونو ته راجلبول دی.

## ج) د څېړنې اړتیا

اکثریت څیړني د څو اهدافو پراساس کیږي، لومړی د ټولنې د اړتیاوو پوره کولو په اساس دوهم په هغمه رشته کې د پوهې پراخوالي پراساس او دریم دا چې د علمي منابعو د نه شتون د منځه وړلو پراساس،دغه څیړنه هم د پورتنیو موضوعاتو پراساس شوي دي.

## د) د څېړنې پوښتنې

په دې څیړنې کې (په اسلام او نړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونو مقایسوي څیړنه) اصلي او فرعي پوښتنې په نظر کې نیول شوې چې په لاندې ډول بیانیږي.

### ۱. اصلي پوښتنه

په اسلام او نړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونه کوم دي؟

### ۲. فرعي پوښتنې

۱)پ ه اسلام اونړیوالوحقوقو کي ډیپلوماتیکي مصونیتونو ډولونه کوم دي؟

۲) په اسلام اونړیوالو حقوقوکي ډیپلوماتیکي مصونیتؤنو حدود او مبنا څه ده؟

## ه) د څېړنې فرضیې

په دې څیړنه (په اسلام او نړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونو مقایسوي څیړنه) احتمالي ځوابونه (فرضیې) په نظر کې نیول شوې چې د څیړنې په لړۍ کې به ځواب شي.

### ۱ . اصلی فرضیه

په اسلام او نړیوالو حقوقو مصؤنیتونه یو اصل په توګه پېژندلی دي؛ د دوې د ډیپلوماتانوځان،کورنۍ ، مال ،اسنادو او لیکنو نقلیه وسایل او نور. وسایل نه پلټل کېږي او د پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصؤنیتونو څخه برخمن دي او د هیڅوک د داخلیدو اوتیري حق نه لري. او په منوونکي هیواد له هر ډول تیري څخه مصؤن دي.

## ۲. فرعي فرضیې

۱) په اسلام او نړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونه عبارت دې له: سیاسي،مدني اوقضایی څخه دې؛او هیڅوک د تیري او نقصولو حق نه لري. ډیپلوماتیکي مامورینو ځایونو،کورنیو، لیکنو او اسنادو مصؤن دي.

۲) په اسلام او نړیوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مامورینو هغه کړنې محدود وې چې د منوونکي هیواد د ګټو پرضد وي؛ یا د د منوونکي هیواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه، یا دمنوونکي هېواد ارزښتونو ته احترام نه درلودل، په اسلام کې مبناء له قرآن،سنت او نبوي حدیثونه دي.او د حقوقو مبناء یې عبارت دې له نړیوال عرف ، نزاکتونه ، دولتونو ترمنځ منل شوي اصلولونه او۱۹٦۱ژمنلیک.

## و) د څیړنې روش

په دې څیړنه کې هڅه شوې چې له کنهو را ټولو شوی منابع څخه د موضوع سره سم له معتبرو اخځلیکونو څخه ګټه واخیستل شي که څه هم په پښتو ژبه د منابع له کمښت سره مخ ؤ. خو کتابونو، مقالو، لکچرنوټونو او انټرنیټي سایټونو ته په ورتګ سره مو د پام وړ معلومات راټول او د کتابتونی، تحلیلي او توصیفي میتود په رڼا کې مو د پایلیک جوړولو دوه ګینه روش کې ځای پرځای کړي. او د اخځلیکونو په برخه کې مو له نړیوال اکاډمیک سیستم څخه ګټه پورته کړې ده.

## ز) د څیړنې مخیینه

په اسلام او نړیوالو حقوقو کې پرتلیز بحث په دې موضوع باندې ؛ ندې شوې موږ تر ډیره بریده پرتلیزه بحث لاندې نیولې دي. په موضوع کې څو منابعو څخه ګټه پورته شوی.د بیلګې په ډول: اسلام و حقوق دیپلوماتیک لیکوال محمد پورامیني،احمد جواد صدر ډیپلوماتیک او کونسلي حقوق،نړیوال عمومي حقوق محمد رضا بیګدلي او داسي نورو منابعو څخه ګټه اخیستل شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ح) د څېړنې نوښت

پخوا به څېړنې پراګنده اوکودنګ کيدلې.دغه څېړنه په دو دويي(دوه ګونې)سيستم باندي ترتيب شوي دي؛ دا چې لوستونکي وکولاي شي په اساني سره د يوې واحدې منبع په حيث معلوماتو اواطلاعاتو ته لاس رسي پيداکړي.

## ط) د څېړنې جوړښت (سازماندهي)

په پورتنۍ څېړنه په دوو څپرکو ويشل شوی اوهرفصل په دوو مبحثونو، هرمبحث په دوو ويناوو اوهره وينا حد اقل دوجزونه لري. په لومړي فصل کې مفاهيم او کليات تعريف، مبنا اوتاريخچه په کي بحث شوي دي اودوهم څپرکي کي د مصونيتونه په اسلام او نړيوالو حقوقو کي تحليلي او مقايسوي څيزنيز بحث شوي دي.

## ی) د څېړنې خنډونه

د ډېرو نورو څېړنو په شان په نوموړي څېړنه کي هم له بيلابيلو ستونزو سره مخ شوم. ملي ژبو د معتبرو کتابونو، رسالواومقالو نه شتون، د وخت کموالي او هره لخظه ځانې اومالي خطرستونزي وي هو بياموهم دغوستونزوسره سره کوښښ کړي؛د معتبرو اوعلمي منابعو څخه ګټه واخلواو وکولای شو خپله څېړنه علمي اومعتبره کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

# مفاهیم او کلیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړی فصل کې په ډيپلوماتيکي مصونيتونواندي بحث شوی دی او دغه فصل په دوو مبحثونو او دوو مطلبونو باندی ويشل شوی او هرمبحث په دوه مطلبونو ويشل شوی او هره مطلب په دوه يا د هغې څخه په ډيرو جزونو باندي ويشل شوی دي په لومړي مبحث کې مفاهيم او په دوهم مبحث کې کليات د بحث لاندي نيول شوي دي.

## لومړی مبحث-مفاهيم

د مونوگراف لومړی مبحث په دوو مطلوبو باندي ويشل شوی دی؛ او هره مطلب بيا په بيلابيلو جزونو باندی ويشل شوی دی په لومړی مطلب کي، مصؤنيت پيژندنه، په اسلام او نړيوالو حقوقو کې د مصونيتونو لغوي او اصطلاحي پيژندنه اومفهوم بيان شوی اوپه دوهمه مطلب کي د ډيپلوماټ، نړيوال حقوق او اسلام پيژندنه او بيان شوي دي.

### لومړی مطلب- مفهوم پيژندنه

مصؤنيت تعريف اوپه اسلام اونړيوالو حقوقوکې ډيپلوماتيکي مصونيتونو لغوی مانا، تعريف او مفهوم بيان شوی. په لومړی جزکې؛ د اسلام له نظره او دوهم جز کې د نړيوالو نظره بيانيږي.

#### لومړی جز- د مصؤنيت پيژندنه

د مصؤنيت اساس لا مخکې د ويانا د ۱۹۶۱ م کال د معاهدې څخه په اووم هجري کال کې د اسلام مقدس دين نړيوالو ته وړاندې کړي دي. البته د ځينو توپيرونو سره لکه د حق العبد په صورت کې د خسارې جبران او نور...

**الف – د مصؤنيت پيژندنه**

مصونيت کلمې معنا په فارسي اوعربي ژبوکې؛ مصؤن پاتي کيدل، محفوظ کيدل اوساتل شوي په معناوو راغلې دي. د مصونيت کلمې مانا اومفهوم د مصونيت لعت په عربي ژبی نوم مفعول دی،چې د مجرد ثلاثی(صون) په مانا دي، د صون مانا محفوظ،ايمن او مصون په مانا کاريدل اوهمدارنگه په فارسي ژبي کي جعلی مصدر دی چې، د صون څخه اخيستل شوي دي. يعني په دې مانا چي هر ډول تعرض او تجاوز څخه په امان کيدل دي او مصونيت لرونکي اشخاص د قانون تعقيب او د دولت له مامورين په امان کی دې ؛ او يا په بل ډول قانون پلي کوونکي مامورين نشي کولای د مصونيت لرونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشخاص تعقیب کړي.د اسلام په مبارک دین کي هم د ډیپلوماټانو سیاسي خوندیتوب ته اشاره کړې ده۱.

**ب – په اسلام کې د ډیپلوماتیکي مُصؤنیت لغوي پیژندنه**

مصؤنیت په معنا دې محفوظ او ساتل شوي په معناوو راعلې دي.یعنی د هر ډول تیری او تجاوز نه امان کیدلو ته مصؤنیت وایی. الله جل جلاله لومړي سفارت بنسټ ایښودونکي دی.پیغمبران یې د سفیرانو په توګه د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره را لیږلي دي. په همدې دلیل د نبوي حکومت کې هم سفارت او استازي د ځانګړی اهمیت څخه برخمن ول، اوحضرت محمد صلی الله علیه وسلم د حکومت د جوړښت سره سم سفیرانو لیږل او د نورو هیوادونو سفیرانو منلي او مقررول،البته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زماني کي د ډیپلوماتیکي اړیکي او د سفیرانو مقررول موقتي ول او د هغوی مصؤنیتونه او مزایاوي هم دومره پراخه نه وه؛همدارنګه ډیپلوماسی هغه وسیله وه چې،په اسلامي او غیراسلامي مقاماتو کاروله؛او د تاریخي کتابونو او متعبرو اسلامي منابعو ته په کتو دغه واقیعت هم روښانه کړي دی؛چې سفیرانو اوډیپلوماټانو په اسلامي ټولنی کي ځانګړی احترام او آزادي درلود ده.پیعمبر علیه السلام د خپل مبارک ژوندانه په دوران کې په لسګونو نمونې پیش کړي دي. چې ، د اسلام په ډیپلوماتیکو حقوقو او اړیکو باندې ښکاره دلایل دي.

د مثال په ډول هغه په مدینه منوره کې د میشته کیدو څخه وروسته ډیر ژر د نړی سترو شاهانو او امپراطورانو ته خطونه ولیږل چې د اسلامي ریاست د خارجي او داخلي سیاست خلاصه او دغه نظام کې د ګډون دعوت پکي وه.

**ج - په اسلام کې د ډیپلوماتیکي مصؤنیت اصطلاحي پیژندنه**

مصؤنیت په ایمان کې یا په امان کې دي. ایمان په مسلمان پوری مربوط کیږي، اوامان له غیرمسلمانانوڅخه. نمایندګانو یا استازو په فقه کې د امان ترعنوان لاندي جهاد کتاب کې بررسی شوي دي.(امان)هغه حق دي، چې لرونکې د تعرض څخه مصون دي. په اسلام کې ډیپلوماتیکي مصونیتونو اصطلاحي تعریف، لکه څرنګه چې د اسلام مبارک دین وړانګو د بشري ژوندانه هره برخه روښانه کړي، پرهمدې بنسټ یی ډیپلوماسي اوډیپلوماتیکي کړنې هم د پامه نه دي غورځولي اود ډیپلوماسی لپاره

---

۱ -پورامینی،محمد حسین.اسلام وحقوق دیپلماتیک.تهران سازمان مطالعه وتدوین کتب علوم انسانی دانشگاه علوم اسلامی۱۴۲ص.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی روښانه اصول اوتګلاري ټاکلي. ترټولو ښه بیلګه یی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د دوري ډیپلوماسي ده. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د دیپلوماسۍ بنسټیزه موخه د اسلامي امت د ملي ګټو ساتل وه.

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په دوره کې ډیپلوماسي په خپله د ده لخوا د اسلامي اصولو په چوکاټ کي ترسره کوله. د نومړي وخت د شرایطواوغوښتنو سره سمه رهبري کوله. اسلام سیاسی استازو اوسفیرانو ته د بیلا بیلواړخونو نه خوندیتوبونه، خوندی ځای ورکولو، مناسب احترام کولو اوپاللومسوولست پرغاړه اخیستی، که څه هم دوې له مسلمانانو سره ناوړه چلن هم کوو، اود دې لپاره چې ترڅو د اوګړي خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړي اود نړۍ د سوکالۍ او ارامۍ لامل وګرځي همدا خبره د سورتی توبی آیت کې ذکر شوي دی(وان احدمن المشرکین استجارک فاجره حتی یسمع کلام الله ثم ابلغه مامنه ذلک بانهم قوم لایعلمون) ژباړه: که چیری له مشرکینو څخه یوکس له تا نه پناه وغواړی، نوپناه وکړه هغه ته، ترڅو واوری کلام د الله جل جلاله اوبیا ترامن ځای پوری ورسوه اودا له دې وجهی دوې داسی قوم دی [نه پوهیږي.۱ ۱ابن کثیررحمته الله دپورتنی آیت شریف په تفسیر وایی :((که چیری یوکس دارالحرب څخه د ډیپلوماتیکو دندو ترسره کولولپاره او سوداګریود سولې د کولو، جګړې د بندولو، جزیی ورکولویا نورو ورته کارونوپه موخه ادارا لاسلام ته راشي اود مسلمانانود واکمن یا دهغه مرستیال څخه پناه وغواړی. نوترڅوچې دارا الاسلام کې پاتي وي اوخپل هیواد ته ګرځیدلی نه وي، هغه ته پناه ورکول کیږي)). د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دقولي اوفعلي سنتوڅخه هم د سفیرانو د خوندیتوب موضوع ثابتیږي.

دبیلګې په توګه پیغمبر(علیه وسلم)د مسلمه کذاب استازي ونه وژل. بیلکې ورته ویی فرمایل:(لوکنت قلاتلا رسولالقتلتکما)یعني که چیري ما استازې وژلای نوتاسو دواړه به مې قتل کړي وای. د ټولوفقهاوو په دې اتفاق دي چې سفیرانو اوهیئتونو ته د پناه اوخوندیتوب ورکول روا دي اوسیاسي استازي بیا د پناه د تړوپرته هم اسلامي خاورې ته د راتللو اجازه لري.۲

---

- -د ابن کثسیرتفسیر۲ټوک۳۳مخ،دالبابی الحلبی چاپ. ۱
- شرح السیرالکبیر،لومړی ټوک،۱۹۹مخ کتاب الخراج،ابویوسف،۱۸۸مخ ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف- په ټولیز ډول خپله رسول الله صلی علیه وسلم۱ په خپل مبارک ژوند کې د نورو قومونو،شاهانواو نمایندګانو ته ډالۍ او خوندیتوبونه ورکړې دي.دبیلګې په توګه کله چې مسیلمه الکذاب نماینده ګانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مقابل کې سپین سترګې وکړه ؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې وفرمایل:(که چیرته خبره داسې نه وي چې سفیرانه وژل کیږي نوستاسي دواړو ګردنونه به مې وهلې واې).همدارنګه چې کله ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه یزید بن ابي سفیان شام ته د بندیانو د سپارلو لپاره لیږل نو د توصیی په شکل یې ورته وفرمایل:(کله چې د دښمن سفیران درته راغلل نواحترام یې وکړه، ځکه چې دا به ستا لومړنې خیروي چې دوی ته یې رسوی). رسول الله صلی علیه وسلم د وفات څخه څو ورځې مخکې د ځینو خاصو وصایاو په ضمن کې د خارجي وفدونو د احترام سپارښتنه کوله او فرمایل به یې:اکرم الوفود.ژباړه: د وفدونو احترام کوئ. پس د سفیرځان،ناموس او د اقامت ځای په اسلام کې مصؤن دی چې په دې مصؤنیت کې ورسره هئیت هم شریک دي.

ب- فقهې کتابونو له اړخه ډیپلوماتیکي مصؤنیت

همدارنګه اسلامي فقهې کتابونو۲ډیپلوماتیکو مصؤنیتونو او مزیاو ته خاصه پاملرنه کړې ده، چې د(کتاب الخراج )له کتاب څخه چې امام ابي یوسف رحمه الله د مالیې اود مالي مسایلو په اړوند لیکلې دي د خورا اهمیت او اعتماد څخه برخمن دي، د یو مفهوم په اړولو سره ترې اکتفاء کوو: امام ابویوسف رحمه الله وایي چې که د یو ولایت والي د یوخارجې فرد سره ګوري اوځان د کوم پاچا نماینده معرفي کوي او ووایي چې د اسلامي خلیفه سره ملاقات لپاره راغلې یم چې د خپل چاپا مکتوب هم ورسره وي او د اموال یې د ډالۍ په حیث راوړي وي. نود دې خبرې تصدیق وشي او څوک دې پر ده او دده پر اموالو عرض نه کوي. خوکه اموال یې د تجارت په نیت راوړې وي نو بیا مالیه ترې اخیستل کیږي. همدارنګه سفیران او ورسره هئیت اسلامي هیواد ته پرته له هغو عهدونو څخه داخلیدای شي کوم چې یو غیرمسلمان لپاره په اسلامي خاوره کې د اوسیدو لپاره د شریعت له مخې ضروري دی چې هغه امان اوبل د ذمې عقد دي.

---

[1] -بصیرت،ع نبی. ډیپلوماتیک حقوق.سلام خپرندویه ټولنه،جلال آباد۱۳۹۶مخ ۵۰.

[2] - د پورتنۍ ما خذ.مخ۵۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم جز- په نړیوالو حقوقو کې مصؤنیت لغوی او اصطلاحی پیژندنه

د عمومي حقوقو د یوي څانگې په توگه، د نړیوالو عمومي حقوقو د مفهوم پیزندنه، چې نن ورځ ورته په لنډیز سره، (نړیوال حقوق) ویل کیږي.

### الف – د مصؤنیت لغوی پیژندنه په نړیوالو حقوقو کې

ډیپلوماتیکي مصؤنیتونه د حقوقو اصلی مرکز یا هسته ډیپلوماتیکي مصؤنیتونه جوړ وي او په ډیپلوماتیکي حقوقو کي مهم رول لوبوي نوضروري او لازمي دي چې مانا او مفهوم سره یې آشنا شو. مصؤنیت کلمه د فارسي حقوقي ادبیاتو معادل او ترجمه د انگلیسي اویوناني ژبو(immunity) څخه اخیستل شوي مصونیت جعلی مصدرپه مانا دي. چي، مانا یې مصون کیدل او خوندي پاتي کیدو په مانا را غلی د کلمې د توپیر له پلوه صون مفعول نوم دی،په مانا دې ساتل شوی او د عربی لعت صون مانا په ځای کي وکارول شي د ساتل شوی(محافظت) په مانا دی؛په حقوقي [1]مفهوم مصونیت په کلي مانا چې لرونکي اشخاص د قانون تعقیب او د دولت له مامورینو په امان کي دي یا په بل ډول قانون او قانون پلي کوونکي مامورین نشي کولای چې د هغه د درلودونکي اشخاص تعقیب کړی.یوازې ډیپلوماتیکي حقوقي مصونیتونه په مستقیمه توگه پر نړیوالو حقوقو ولاړ دی، د منوونکی هیواد حاکمیت ته زیان رسوی او ترهمدې عنوان لاندې په هغه هیواد تپل کیږي. خو په مقابل کي ډیپلوماتیکي امیتازات د منونکی هیواد په داخلي حقوقو پوري منصر دي. د هغه ورکړی بشپړ واک لري.البته د نړیوالو نزاکتنو او مقرراتو ځای او حتی نشي کولای په دې اړه نړیوال حقوق له نظره لیري کړی. همدارنگه د رومي مشهور فیلسوف سیسرون د ډیپلوماتیک خوندیتوبونو په اړه داسي وایي((د سفیرانو خوندیتوب هم د بشری حقوقو کې او هم په الهي حقوقو کي تضمین شوی، د دولتونو سفیرانو د پاک اومقدس شخصیت درلودونکي دي او د دوی درناوی باید په ټولو دوستو او دوښمنو هیواد کي وشي)).

### ب) د مصؤنیت اصطلاحی پیژندنه په نړیوالو حقوقو کې

په عمومي نړیوال حقوقوکې په شخصي توگه ډیپلوماتان اودهغوي داستوگنې اوکارځاي دهغه دولت دمامورینوله تعقیب څخه خوندي دی. چې په هغه هیواد کې دنده ترسره کوي؛ خودغه خوندیتوبونه د

---

[1] -نعیمی،گل احمد.ډیپلوماسی او د مذاکرې فن، ننگرهار-مومندخپرونديه ټولنه ،مخ ۱۳۰. ۱۳۹۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بين المللی عرف اوعاداتو له مخي رامنځته شوي دي. نه دهيواد د قوانينو له مخي دي. ډيپلوماتيک خونديتوب د ټولوډيپلوماټانولپاره مهم غټ امتيازدي چې ترڅو دوي وکولای شی خپلې دندې په خپلواکه توګه پرته دکومو ستونزو اوفشارڅخه ترسره کړي ..ډيپلوماتيک مامورين چې د خپل هيواد لخوا په منوونکي هيواد کې د يوسلسه خدمتونه د سرته رسولو لپاره ګمارل کيږي.نو د دې هدف لاسته راوړلولپاره بايد نومورې مامورين يوسلسه تسهيلاتواواستثنايي تضميناتوڅخه برخوادره وی. چې؛ همدغه تضميناتو اوتسهيلاتو ته په ډيپلوماتيک ژبه مصونيتونه وايي. يا پدې معنا چې مصونيتونه عبارت دی له دې څخه چې نومړې ډيپلومات په منوونکي هيواد کې د امنيتې مامورينو اوقانونې تعقيب څخه خلاص دي ياپه بل عبارت قانون

اوقانون چلوونکي ماموراين نشي کولای نومړي شخص ترتعقيب لاندي ونيسو .

**دوهم- مطلب**

په دې مطلب کې په لومړي جز کې د ډيپلوماټ، دوهم جز کې نړيوال حقوق او په دريم جز د اسلام مقدس دين پيژندنه او معنا تربحث لاندې نيول شوی دي.

**لومړی جز – د ډيپلوماټ پيژند نه**

د ډيپلوماټ کليمه د ډيپلوماسۍ لفظ او اصطلاح ته منسوبيږي. چې خپله ډيپلوماسۍ يوه يوناني کليمه ده چې د (diploma) څخه اخيستل شوی ده. او ډيپلومه هغه رسمي سند ته ويل کيږي چې د هيوادونو د باصلاحيته چارواکو ترمنځ د توافق وروسته يو بل تبادله کوي چې دغه سند په عين وخت کې يې دغه لوړ پوړي باصلاحيته چارواکو په لاسليک او مهر باندې هم مزينه شوي وي. چې دغه با صلاحيته لوړ پوړي چارواکي بيا د ډيپلوماټ په نوم يادیږي. او دغه عمل په نتيجه يعني مذاکرې پايلې او ترړون منځته راوړل همدا عمل ډيپلوماسۍ بلل کېږي. نو بيا دهغه قواعد او مقرارت چې دغه عمل لپاره چوکاټ جوړ وي هغې ته ډيپلوماتيک حقوق وايي. د ډيپلوماټ لپاره بيل بيل تفريفونه وړاندې شوي او څه تغريفونه په لاندې ډول بيان شوي دي.

ډيپلوماتيکي مامورين يا ډيپلوماټان هغه څوک دي، چې د ډيپلوماسۍ چاري پرمخ وړي، يعني هغه سياسي مامورين چې د ډيپلوماتيکي هنر او ډيپلوماتيکو کړنو پر بنسټ بهرنی سياست پلی کوي، هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ډیپلوماتیکي مامورین یا ډیپلوماټان ویل کېږي[1]. د ډیپلوماټانو مهمه دنده په بهرني دولت کي د خپل دولت بهرنی سیاست پلي کول دی. یا ډیپلوماټ هغه شخص ته ویل کېږي چې د یو رسمي دولتي مقام څخه د بهرني سیاست د اجراء کولو لپاره گومارل کیږي. د ډیپلوماټ لپاره بیلا بیل تعریفونه وړاندې شوی دی. په یو بل تعریف داسي شوی ډیپلومات هغه شخص ته ویل کیږي چې د یو دولت له لوری د دولت یا دولتونو سره د ډیپلوماتیکو چاري پرمخ بیایی.

**الف) د ډیپلوماټ دندې**

ډیپلوماټ په بهرنې دولت کي دخپل دولت داستازي په بڼه یو شمیر مهمي او اړینې دندې لرې، که څه هم د ډیپلوماټ دندې په گوته کول یو ستونزمنزمنه خبره ده، خوبیا هم څه نه څه دندې په لاندې ډول دي[2].

۱-د خپل هیواد د ملي گټو ساتنه:

لکه څرنکه چې دولتونه خپل بهرني سیاستونه د ملي گټو د ستاتلو په موخه ټاکې او ډیپلوماسی بیا دبهرنیو سیاستونو دپلي کولو لپاره هلي او ځلې کوي، له همدې کبله د ملي گټو ساتل د ډیپلوماټ مهمه او بنسټیزه دنده ده. ډیپلوماټ ته ښایی چې هره ډیپلوماتیکه او سیاسي لیدنه او غونډه کې د خپل دولت د ملي گټو د ساتلو پربنسټ حرکت وکړي.

۲- د خپل دولت استازیتوب:

په کوربه دولت کې د ډیپلوماټ دریځ او کړنې دخپل اړوند دولت د استازیتوب په مانا دي، کله چې ډیپلوماټ په کوربه دولت کي د خپل هیواد د ملي گټي ساتي  او دخپل دولت د بهرني سیاست د ټاکلي تگلاري پربنسټ حرکت کوي، دا په دې مانا دي، چې دی د خپل دولت استازی دی او د خپل دولت د بهرني سیاست بنسټیزه تگلاره هم باید د کوربه دولت ته روښانه کړي. ډیپلوماټ باید د ټولو اړینو وسایلو او امکاناتو په کاروني سره کوربه دولت د خپل هیواد دموخو څخه خبر کړي او د خپل دولت دسیاسی استازي په بڼه چلن ورسره وکړي.

۳- د خبرو او مذاکرو سرته رسول:

---

[1] -داوری، فرهاد. ډیپلوماتیکی لارښود. مومند خپرندویه ټولنه-جلال آباد۱۳۹۴مخ۹۵.

[2] - پورتنۍ ماخذ مخ۱۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنگه چي ځيني سياستپوهان ډيپلوماسی ته  دخبرو او مذاکري فن وايې له هم همدې کبله د ډيپلوماټ  دا دنده ډيره اړينه ده، مذاکره او خبري د ډيپلوماسی د پايښت مهم توکي دي، لکه څرنگه چې هره څانگه او هره پوهنه ځانته ځانگړي وسايل او توکي  لري، له همدي کبله مذاکره د ډيپلوماسی مهمه وسيله ده.

د ډيپلوماټ ځيراکت او پوهه د مذاکري سرته رسولو کي ښه معلوميږي، ترڅو چې ډيپلوماټ دمذاکري په فن او رازنو پوه نسي ترهغه په نورو دندو کي نسي بريالی کيدای. لکه څرنگه چې مذاکره د دولت دبهرني سياست د موخو د لاسته راوړلو لپاره ترسره کيږي،له هم دې کبله په مذاکره کې د خپل دولت پرملي گټو او بهرنيو موخو پاندې زيلت ټينگار کيږي.

**ب) د ډيپلوماټ ځانگرتياوې**

د ډيپلوماسی پوهانو په آند، چې ډيپلوماټ بايد له جسمي او عقلاني په دواړو اړخونو کې له طبيعي امتياز او غوراوي څخه برخمن وي. هغه ډيپلوماټ چې په طبيعي ډول سالم او دښو ځانگړنو لرونکی وي هغه په خپلو دندو کې بريالی وي.

ټولنيزه گروهه پردې ده چې ډيپلوماټ بايد د ځينو ځانگړنو لکه رينښتنولي، امانت، زړورتيا،پاکوالي، پياوړي ارادي، روغتيا، هوښياری، نرمی، ښه نيت، هڅاند، پوهه، ښه زړه او ښه چلن لرونکی وي. که چيري د پورتنی ځانگړني په يوه شخص کي په طبيعي ډول شتون ولري او بياهم دخبرو شريني يا ښو خبرو ځانگړنه هم ورسره يو ځاي شي نو بيا ډيپلوماټ هغه شخصيت کيږي، چې د زياتو خلکو لخوا منل کيږي او په خپلو دندو کې بريالي گڼل کيږي. که څه هم خلک د ډيپلوماټ لپاره د فريب ورکولو هنر هم ځانگړنه بولي خو دا د رينښتني او غوره ډيپلوماټ لپاره ځانگړنه نسي کيدای بلکې دا د خلکو نظر دی.

**دوهم جز- د نړيوالو حقوقو پيژند نه**

نن ورځ، د نړيوالو حقوقو د تعريف په اړه نظريي توپير لرونکي يا متضاد ليد لوري وجود لري. خو پياوړي نرونه او د لوتوس په قيضه کې د عدالت د نړيوالې محکمې پريکړه له لوري او مخکنيو وړاندې  شويو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحثونو ته په پام سره له بل لوري، کولای شو،په لاندې ډول يې تعريف کړو. مخکې له دې نه چې بشپړه تعريف ته ورشو لومړې لغوي معنا او ورپسي اصطلاحي تعريف کوو١.

الف ) د نړيوالو حقوقو اصطلاح دلاتيني (jus gentium) له کلمې څخه، چې لفظي مانا يې د ملتونو حقوقو دي، اخيستل شوې دي، د (jus gentium) اصطلاح، چې لرغوني روم کې د (jus civile) د اصطلاح په مقابل کې ځاي لري او مانا يې ( د رومي وګړو ځانګړې حقوق دي، په هغه قواعدو باندې دلالت کاوه، چې د هيوادونو پرته پردي هم په کې شامليدل. دغه مقرارت د روم دا مپراتورۍ له لوري اوله نورو هيوادونو او پرديو وګړو سره اړيکو د تنظيم لپاره وضع شوي وو او په واقعيت کې، د روم ملي يا داخلي حقوق ګڼل کيدل. په دې توګه نه شو کولای، چې په نړيوالو حاکمو اړيکو پورې منحصر وګڼو. البته، په وروسته کلونو کې د(jus gentium) اصطلاح او حتي د(jus civile) اصطلاح بدلون ومومند.

ب ) د نړيوالو حقوقو بشپړ تعريف: نړيوال حقوق، چې دعمومي حقوقو له څانګو څخه دی، د نړيوالې ټولنی حقوق دي؛ يانې د پلي کيدونکو هغه قواعدو او مقرارتو مجموعه، چې د نړيوالو اړيکو څخه رامنځ ته شوی دي او د نړيوالې ټولنې د غړو ترمنځ د اړيکو تنظيم کوونکي دي. دغه حقوقي څانګه، دملي يا د هيوادونو له داخلي حقوقو څخه مخکې والی او لومړيتوب لري ا, نړيوال سازمانونه (دولتي) په خپلو اړيکو کې، ددې قواعدو په پلي کولو باندې مکلف دي.البته، په ځانګړو برخو کې، نړيوال حقوق، د عادي حقيقي اشخاصو، بهرنيو خصوصي شرکتونو (ملي او څومليتي شرکتونو) غير دولتي نړيوالو سازمانونو او آزادۍ غوښتنونکو خوځښتونو، حقوق او مکافيتونه هم ټاکي.

**دريم جز- د اسلام پيژندنه**

اسلام يونړيوال دين دی او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د الله (ج) اخری سفير دی. د اسلام د فلسفې تشريع او د حضرت رسول الله بعث د انسانانو دعوت اوهدايت د توحيد او يووالی لپاره دي او اسلام په معنا دې تسيلميدل،اطاعت او سولې ته اسلام وايی. په اصطلاح کې هغه عقايدو او احکامو ته ويل کيږي. چې، د بشري ټولنې غوښتنو پراساس پرحضرت محمد صلی الله عليه وسلم باندې نازل شوي دي. اسلام دين کامل او نړيوال دين دی پرته له کمي اوکاستي څخه پرحضرت محمد صلی عليه

١ -حکيمزی،حسيب الله.نړيوال عمومی حقوق.نوی مستقبل ټولنه – کابل.٨

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلم باندې نازل شوی دی.او دخداي (ج) پروړاندې غوره دين اسلام دی. لکه څرنګه چې الله (ج) په قرآن کريم فرمايی:ان الدين عندالله الاسلام١)

الف) د حضرت محمد صلی عليه وسلم ځوابونه داسلام په اړوند:

کله چې جبرائيل عليه وسلم د نبي عليه وسلم څخه د ايمان اړوند پوښتنه وکړه، رسول الله صلی عليه وسلم ورته وفرمايل:ژباړه: ايمان دې ته وايي چې پرالله (ج)، پرښتو، کتابونو، پيِمبرانو، آخرت په ورځ او همدارنګه خير او شر چې دغه ټول د الله له لوري دي باوراو يقين کول. او ايمان حکم پرټولو کتابونو باندې ايمان راوړل فرض دي، او که چيري څوک انکار و کړي کافرګڼل کيږي.

ب) د شخص مسلمانيدو لپاره لومړي کار چې ترسره يې کړی

د مسلمانيدو لپاره د توحيد کلمې لوستل او تصديق کول: (لا اله الا الله محمد رسول الله) ژباړه:نشته معبود برحق يوازې د الله (ج) نه او محمد صلی عليه وسلم د خدای (ج) استازی دی او دشهادت کلمه يعنی:( اشهد ان لا اله الاالله واشهد ان محمداً عبده ورسوله) ژباړه: زه ګواهي ورکوم، چې نشته معبود برحق يوازې دالله (ج) نه او ګواهي ورکوم چې حضرت محمد صلی عليه وسلم دالله (ج) بنده او رسول دی.

## دوهم مبحث -کليات

د مصؤنيت اساس لا مخکې د ويانا د ۱۹٦۱ م کال د معاهدې څخه په اووم هجري کال کې د اسلام مقدس دين نړيوالو ته وړاندې کړي دي. البته د ځينو توپيرونو سره لکه د حق العبد په صورت کې د خسارې جبران او نور...

### لومړی مطلب- په اسلام کې ډ يپلوماتيکي مصؤنيتونو تاريخچه او مبنا

د اسلام مبارک دين کامل اوبشپړ دين دي، د ټول بشريت لپاره تلپاتي اصول اوقواعد لري، د اسلام په مبارک دين د ژوند د ټولو اړخونولپاره لاربښووني اوقواعد شتون لري له همدې امله په اسلام کي د ډيپلوماسۍ اوډيپلوماټانو په اړه روښانه اوبنسټيز قواعد شتون لري.

---

-دريمه پاره، سورت ال عمران.١٩آيت.[١]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی جز-په اسلام کې ډيپلوماتيک مصونيتونو تاريخچه**

لکه څرنگه چې د اسلام مبارک دين يونړيوال دين دی اود بشري ژوندانه هري برخي ته يې پام کړی اود هري برخې لپاره احکام لري. پرهمدې بنسټ د دولتدارۍ او سياسي برخې لپاره هم روښانه او واضع احکام لري. د اسلام مبارک دين د سفير اوسفارت کلمې څخه هم يادونه کړې ده؛ د عربي ژبې د سفار کلمه د ډيپلوماسي اوسفير کلمې مترداف ده، چې څو ماناوې لري. مقابل لوري ته مسايلو روښانه کول، پټورازونو څخه پردې پورته کول،د ابهام تيارې د سهار رڼا غوندې روښانه کول،د حقايقو پرمخ د غبار جاروکول دي.

امام راغب اصفهاني وايي((رسولان هم د الله ج سفيران دي ځکه هغوی هم د الله جلاله د دين په وړاندې د خلکو افکاروڅخه د ابهام پردې ليري کوي اوحقايق خلکوته روښانه کوي)).همدارنگه ځينو پوهان وايي د لومړی ځل لپاره د سفيردنده د حضرت آدم (عليه السلام)ترسره کړې ځکه هغه د الله (ج)لومړی سفيراواستازی وه. اوخلکوته يې د لومړي ځل لپاره د ژوند تيرولو وسايل اوآسباب ورښودل اوملايکو هغه ته سجده وکړه چې د په خپله د هغه درناوي وه ځکه هغه د الله(ج)استازي۱.د اسلام په سپڅلي دين په ظهورسره سمدستي اسلامي هيوادونو د نوروملتونو سره خپلې سياسي اړيکي ټينگې کړې؛ ځکه دوی څخه کوله جگړې پرځای د مذاکرې اوخبرو له لاري يوبل غوښتنو ته ځواب ووايي.مذاکره اوخبرې اترې په اسلام کې ډيرمهم رول لري.

ځکه حضرت رسول الله(ص)او د هغه اصحابه کرامو د نورو دولتونو د استازو سره بيلابيلې مذاکرې ترسره کړي دي. چې، پايله کې بيلابيل سميه ايزو او نړيوال تړونونه رامنځ ته شوي. په ټوليزه توگه خپله پيغمبرعليه السلام په خپل مبارک ژوند کې د نوروقومونو،شاهدانو او نمايندگانوته ډالۍ اوخونديتوبونه ورکړې دي. د مثال په ډول کله چې مسلمه کذاب نمايندگانو پيغمبرعليه السلام په مقابل کې سپين سترگي وکړه. نو پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل: لولاان الرسل لاتقتل لضربت اعناکما. ژباړه: که چيرته خبره داسي نه وی چې سفيران نه وژل کيږي نوستاسي دواړو گردونونه به مې وهلې وای. همدارنگه کله چې حضرت ابوبکرصديق رضی الله تعالی عنه يزيد بن ابی سفيان شام ته د بنديانو د سپارلو لپاره ليږل

---

-بصيرت،ع نبی.د ډيپلوماسی تاريخ،دنن ګرهارپوهنتون دحقوقوپوهنځی لکچرنوټ،۱۳۸۵ه.ش کال. ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

نود توصیې په شکل یې ورته وفرمایل: کله چې د دښمن سفیران درته راغلل نواحترام یې وکړه؛ ځکه چې دغه به ستا لومړني خیروي چې دوی ته یې رسوي.

**الف-د نړۍ پاچاهانو ته د پیغمبرعلیه السلام لیکونه اوسفیران لیږل**

د حبشې پاچا ته د پیغمبرعلیه السلام لیک اوسفیرلیږل. ویل کیږي چې، لومړي سفیرد پیغمبرعلیه السلام لخوا د حبشي پاچا ته چې(نجاشي اصحم)نومیده ولیږل شو. هغه عمروبن امیه الضمي وه چې د پیغمبرلیک یې نجاشي ته وسپارلو. د اسلام ډیپلوماسي په تاریخ کې عمروبن امیه الضمري د پیغمبرعلیه السلام لومړني سفیرګڼل شوي دی.

چې، په حبشه کې یې یو کامیاب اوموفق دیپلوماتیک ماموریت سرته رسولې دی.داچې درسول الله صلی الله علیه وسلم دغه سفیرد خاص ډیپلوماتیک فراست اوزیرکتیا درلودونکې اوپه موثره اندازه یې مقابل طرف ته د خپل مشرپیغام ورانتقال کړل نود حبشې په پاچا یې قوي اثروکړ.

د پیغمبرعلیه السلام مبارک لیک یې راوخیست اوپرسترګو یې کیښود اوبیا د ادب له وجې له تخت څخه راکوزشو اولاندي په فرش کښیناست. دخپل اسلام اعلان یې وکړل اود شهادت کلیمه یې وویله، اودایې هم وویل که وخت اوتوان پیداکړ د پیغمبرعلیه السلام په حضورکي به حتما مشرف شم مګرژوند ورسره ډیره یاري ونکړه او ژر وفات شو. پیغمبرعلیه السلام یې په غیابت کې جنازه اداکړه.

۲-د روم امپراتورهرقل ته د پیغمبرعلیه السلام لیک

نبي کریم علیه السلام د روم امپراتورهرقل ته هم په مشابه او ورته مطالبودغه لاندي لیک دهجرات په اووم کال د محرم په میاشت کې دخپل سفیر(د حیت بن اخلیفه الکلبي)په لاس ورستوو چې مطالب یې په لاندې ډول دي.

((بسم الله الرحمن الرحیم من محمد رسول الله الی هرقل عظیم الروم،سلام علی من اتبع الهدی، امابعد فاني ادعوک بدعایت الاسلام، اءسلم تسلم، واسلم یؤتک الله اجرک مرتین، وان تولیت فان علیک اثم الاریسین و[یااهل الکتاب تعالوا الی کلمت سواءبیننا وبینکم ان لانعبدالاالله]الی قوله[اشهیدوا بانامسلمون]) ژباړه: دا لیک د الله د رسول محمد (ص) له طرفه د روم مشرهرقل ته تقدیم دی. په هغه چا دې. سلام وي چې د سمې لارې پیروي کوي. د بعد د سلامه: زه تا د اسلام په طرف دعوت کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام راوړه ترخوسالم پاتې شي اواسلام راوړه نوتاته به الله جل جلاله دوه ځلې اجردرکړي، اوکه مخ دې واړولو نوستا د رعيت ګناه به هم د ستا په غاړه وي. په دې ډول پيغمبرعليه السلام د نړۍ نوروپاچاهانو ته هم سفيران اوليکونه ليږلي دي. چې، په ټولوکي مشبتوپايلو درلودونکي وه اوهغه داچي اصلي هدف د پيغام رسوول وه، د اسلام د حقانيت اويوسياسی، نظامي اوديني قوت په حيث معرفي کول اوداسلامي دولت د محوري بر نامواوخارجي سياست خلکوته بيانول وه.

دا پايله ده، ټولوماموريت څخه لاسته راغلي ده. مګرچې ځينو پکي اسلام قبول کړی دی؛ لکه د حبشې اويمن خلکواو چارواکو قبول کړې وه ,دا ډيره لويه لاسته راوړنه ده. مګرځينو بدبختو قومونواودهغوی چارواکو ډيربد برخوردونه وکړل. لکه د فارس کسری، چې ددې زيان هم يوازې د هغو ځانونوته متوجي دي.

**ب- د خلفاء راشدينو سفارتي او ديپلوماتيکي کړني**

د نبي کريم عليه السلام له رحلت څخه وروسته خلفاء راشدينو د اسلامي امت خلافت په غاړه واخيستئ. دوی د نبي کريم عليه السلام لارو تعقيبول اوپه ډيپلوماسۍ کي يې هم هغه نيکه رويه اوچلن چې ده مبارک کول تعقيب کړل. د بيلګې په توګه لومړني خليفه ابوبکرصديق(رض)د روم د قيصر سره ښې اړيکې ټينګې کړي اومناسبات يې په سمه توګه ترسره کړې، دده څخه وروسته دوهم خليفه حضرت عمرفاروق (رض)هم د روميانو سره اړيکي د دوستي اومينې په فضاکي وستاتلي.

طبري تاريخ د دوهم خليفه او د روم قيصر ترمنځ اړيکي ډيرې تودي ګڼي، د دوي ترمنځ اړيکي تردي بريده تودي اوټينګي وي چې يو وخت د دوهم خليفه بي بي د روم د امپراتورښځې ته يوارزښتناکه اوقيمت لرونکي اميل د حضرت عمر(رض)بي بي ته يې راوليږلو،چې ده مبارک هغه بيت المال ته وسپاری اوشخصي ګټه ځيني ونه کړه۱.

**ج- د اسلامي فقهاوو په اند سفارت اوډيپلوماسي**

د سفارت، سفيراوډيپلوماسۍ په اړه اسلامي فقهاوو اوعلماوو هم ډيري ليکني کړي دي د بيلګې په توګه امام ابويوسف په خپل کتاب(کتاب الخراج)ليکي ((که چيري د کوم ولايت والي د بيګانه يا بهرني شخص سره مخ شي اوهغه د خپل باورليک ورته وړاندي کړي اوورته ووايي چې زه دخپل پاچا لخوا د

---

۱-د پورتنۍ ماخذ۲۹.. ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړې هیواد ته سفیر رالیږل شوی یم اود کوم مال چې زما سره دی هغه مي داسلامي دولت امیرته ډالۍ په توګه راوړی دی، د ده په خبرو دی باور وشي او د مال څخه دي مالیه نه اخیستل کیږي...همدارنګه دی په سمندري قلمرو کي هم سفیرانو خوندیتوب ته اشاره کوي۱

او وایې که چیري په سمندرکي د کافرانو کومه کښتۍ دمسلمانانو د کښتۍ سره مخ شي اوپورته دعوه وکړي نو دوي هم خوندی وساتل شي اواسلامي امیرته دې بوتلل شي.....)).همدارنګه زیاتو نوروفقهاوو اوعلماوو پدې اړه اندونه ورکړي دي اوپه اسلام کي یې دډیپلوماسۍ اوسفارت ارزښت روښانه کړی دی.

پورته موپه اسلام کي دډیپلوماسۍ پرارزښت باندې څه ناځه رڼا واچوله اوداراته معلومه شوه چې، اسلام کي۱۴ پیړۍ وړاندې د سفیرانو خوندیتوبونه، امیتازات،تشریفات، آداب....په ګوته شوي وه. نو ویلي شوچې، داسلام مبارک دین ډیپلوماسۍ ته زیات ارزښت قایل دی اوډیپلوماسي د اسلامي حکومت لپاره اړینه ده۲

**دوهم جز-په اسلام کې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونومبنا**

خو د ډیپلوماتیکي اړیکو تاریخ ښیی؛ چې په کلي توګه دولتونه د بهرانیو ډیپلوماتانو په اړه ددې خوندیتوب په هکله هیڅکله له زړه نه تمایل نه درلودل. خو له دې سره سره بیاهم په عملي توګه په ټولو اړخونه منلي اورعایت کړي دی. ځکه چې، خپله هم له دې خوندیتوبونه څخه ګټه اخیستونکې وه. ددې بحث په پیل کې دغه پوښتنه رامنځ ته کیږي. چې د ډیپلوماتیکي خوندیتوب دلیل اومنطق څه شي دی؟

ددې موضوع اهمیت اوبیلابیلو نظریاتو تفاوت په دي کې دي. معمول سره سمه پراختیا موندلي. له مسلمو حقوقو څخه مخلاف ښکاری ځکه د کلي اصل پربنسټ د یودولت حاکمیت پرهغه کس اوشي باندي شته چې، په قلمرو کې واقع وي. او د دولت قوانین د خپل قلمرو په داخل کې دهرکس اوشي لپاره داجراء وړدي.

لومړی جز- نظریې: په لاندې ډول دري نظریې بیانووپه ډیپلوماتیکو مصؤنیتونو په اړوند اوورپسي د اسلام سپڅلي دین له اړخه پربحث کوو.

---

۱ - دپورتنی ماخذ ۳۰

۲ -بصیرت،ع نبی.د دیپلوماسی تاریخ،ننگرهار پوهنتون د حقوقو پوهنځی لکچرنوټ ۱۳۸۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف-نمایندګۍ نظریه

د ډیپلوماتیکي مامورینو د استازولۍ په ځانګړنو ولاړه ده. له دې نظریې سره سم؛ د استونکې هیواد مامورین په منونکي هیواد کې د استونکي هیواد استازي دي. نو دهیوادونو له هماغه امتیازونو اوخوندیتوبونوڅخه برخمن دي. هرنوع تعرض په استازو باندې په هغه هیواد کې تعرض ګڼل کیږي۱

ب-له سرحد بهرنظریه

دغې نظریې پراساس نوښتګرپه اولسمه پیړۍ کې دهالیند پیژندل شوی؛ حقوق پوه هوګر ګروسیوس دی. چې، په خپل کتاب کې لیکلي:(د بین المللي حقوقو له مخې د سفیر په شخصیت کې د هغه هیواد د هیواد مشرشخصیت تجلی یوه اودا فرضیه له دغې فرضیې سره ورته ده. چې، وایی: سفیردهغه دولت له خاورې څخه بیرون دی؛ چیرته چې دنده تر سره کوي او ددې پایله ده. چې سفیرمکلف نه دی؛ چې د هغه هیواد قوانین ومني.چې په کوم کې ماموردی.

ج-د خدمت کولود مصلحت نظریه

که د مصلحت نظریې پراساس سیاسي استازي په ارامه د کوربه هیواد تاثیراتو پرته خپلې دندې پرمخ بوځي؛ دا سیاسي استازولپاره مصونیتونه اومزایاوو ضرورت پیداکیږي. یا په بل ډول سیاسی استازي یا ماموریت په مساعدوشرایطو په کامل استقلال پرمخ بوځي. نولازمه دي چې د کوربه هیواد په حقوقي نظام په عملي توګه پراخې ازادۍ څخه برخمن شي. له دغه ازادۍ څخه مراد سیاسي چارې په ښه صورت ترسره کول دي. همدارنګه د ټولومطرح شویو نظریاتوسره د اسلامي حقوقوله نظریې هم بحث پرې کېږي.

دوهم جز- الف: له سرحد بهرنظریه په اسلامي حقوقوکې مغایرت دلیل د یوې برخې موزاینې اصول اسلام سره په ټکردي. ځکه دغې نظریې منل لازم ندي چې په اسلامي خاوره کې؛ بیګاناګانولپاره حقوق اومزایاوي په پام کې ندې نیولي. کوم حقوق چې اسلام ورکړي دي۲.اونورې نظریې یعنې نمایندګۍ نظریه اوخدمت کولود مصلحت نظریه په اسلامي پوهانو کي طرافداران لري.د نمایندګۍ نظریې د تائیدلپاره شاوهدوړاندې کړې دي.

---

-بی‌ګدلی،ضیایی،حقوق بین عمومی.صفحه۴۴۲. ۱

-غینمی،قانون اسلام فی السلام،ص۵۸۶ ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-که چیري غیرمسلمان اسلامي خاورې ته داخل شي. او ادعا وکړي؛ چې غواړم په امان کې شم  یاهم ووایي چې استازی یم او باورلیک هم ورسره وي. په امن یا امان کې دي. دهغه نه شاوهدو مطالبه اونوره هرډول زور، فشاریا د نورو اسنادو غوښتل ترخو پوري مسله نه وي واضع شوي راوه ندي. د قرآن الکریم اوسنتو پرتائید پراساس په هغه باندې خپل هیواد ته ترتللو پورې هرډول تجاوز(تعرض)منع ګڼل کیږي اوهرڅوک چې په قصد سفارت یا سیاسی ماموریت لپاره اسلامي خاورې ته داخلیږي په امن اوامان کي دي رسول الله هرډول تیري اوتعرض څخه په هغه باندي منع کړي دي۱.

ابویوسف کتاب الخروج کي لیکلي: که چیري یوڅوک یا بیګان کس د والیانو سره لیدنه اوکتنه کوي؛او ادعا وکړي چې د فلاني بادشاه استازی دی یادعرب سلطانت څخه راغلی اوباورلیک هم ورسره وي.هیڅ څوک د هغه په اموالو باندي تعرض حق نه لري. که اموال یې د تجارت په نیت هم راوړي وي اومالیه لری. همدارنګه که چیري د مسلمانانود مشرکنو کشتي دمسلمانانوله کشتي سره برخورد وکړي یا ادعا وکړي چې د فلاني شخص استازی دي اوباورلیک هم وړاندې کړي.

پس والي مکلف دي چې هغوی د مسلمانانو مشرته بوځي اوکه چیري دواروغو ادعا یې کړي وه؛ د مسلمانانومشربه پریکړه کوي۲.د اسلامي پوهانوله نظره د دې پر اساس استونکي که شخص یا دواکمن استازی وي هغه باندي تعرص ناروه دی حتا دجګړې په صورت کي دهغوی کورني،مالونه په امن کي دي.

۲-کله چی رسول الله(ص)د مسلمه کذاب استاری ته وفرمایل((که چیري سفیرنه وی د ستا دوژلو فرمان مې صادرولو))د دې دلیل پراساس استوونکي د مصونیت څخه برخمن دي اوتعرض ندي راوه.

۳-رسول الله(ص) په خپل باورلیکونه کي دغه ډول ذکر کړي وه. ((زه محمدرسول الله الی فلان))یا((زه محمدالنبی لی فلان))استفاده کوله. ((د زرعه بن یزن))په لیک کې فرمایلي: ((که چیري زما استوونکي تاسوته راغلل هغوي سره په نیکې رفتار وکړئ)) دغولیکونوڅخه جوته کیږي چي، استونکي وصف درلود؛ نمایندګان له مصونیت اواحترام څخه برخمن دي۳.

---

-ابوابوفار،قانون الدیلوماسی الاسلامی،ص۳۴،الملاح،سلطات الامن واتحصامات والامیتانات الدبلوماسیته،ص۶۰۷-۷۰۷. ۱

-ابویوسف،الخروج،ص۱۸۸-۱۸۹. ۲

- سیدالناس،ابن،عیون الثر ج۲،ص۳۰۴. ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب-د خدمت کولومصلحت نظریه

دغه نظریه په اسلامي اوفقهي حقوقوکې ډېر طرفدارن لري. همدارنګه دغه نظریې په اخیرکانون کې د ویانا کنوانسیون۱۹٦۱درج شوی او نن ورځ ډېرحقوق پوهان دغه نظریي طرفداران دي. پیړۍ مخکي، دهجرات دوهمې پیړۍ کې شیباني په کتاب السرالکبیر پدې بیان کړي دي.

لکه څرنګه استوونکي په امنیت کې نه وي نشي کولای خپلې ورسپارلي شوی رسالت ترسره کړی .غلاوه پردې د امان لپاره هیڅ ډول شرط وجود نه لري. اوکه چیري شرط د پریکړې یا سند له مخې ترسره شي غوره ده۱.همدا ډول علاوه د شیبانی نه نورو پوهانو اود فقې خاوندانو سرخي په دې هکله وایي:په جاهیلت اوپه اسلام کې استوونکي له مصؤنیت څخه برخورد ول؛ځکه جګړه اوسوله د استازو له استولو پرته نه شوني وه. پس لازمه دي چې، استازي د خپل هدف د رسیدلو لپاره په امن کي وي۲.همدارنګه دغه نظریه د۱۹٦۱ز کال د ویاناژمنلیک په سریزه کي په صریحه توګه پدې ډول ذکر دي(په ډاډه توګه ویلي شو؛ چې خوندیتوبونه اومزیاووي د امتیازپه توګه اشخاصو ته نه ورکول کیږي؛ بلکې په موثره توګه د ډیپلوماتیکې مامورینو دندو د ترسره کولو په خاطر د دولتونو استازو ته ورکول کیږي.))ددې سربیره په کنوانسیون کې ډیپلوماتیکي نمایندګې اودولتونو استازي ذکرشوي د۳مادې پراساس ډیپلوماتیکي ماموریت دندې پرځانګري توګه عبارت  دې له:

الف) د منوونکي دولت پروراندې د استونکي دولت استازولی.

ب) ترهغوحدود پوري چې، په بین لمللي حقوقوکي منل شوي دي؛په منوونکي دولت د استوونکې دولت د اتباعو اوخپله د دولت ګټو ساتنه،

ج)د منوونکي  له دولت سره مذاکره د استازی دنده ګڼل کیږي. بنابرءان دولت نمایندګانونوته مصونیت اعطا کوي؛ په دې هدف چې خپله دنده په حسن نیت سره پرمخ بوځي. همدارنګه د امتیازورکول د استاری شخصیت اوکرامت څرګندویه دي. هرنوع سوء استفاده کولو د شخصیت اومقام داستوونکې دولت پورې اړونده کیږي

-النظم،منجد الدبلوسی فی الاسلام،ص۸۱. ۱

-اوالوفاء،قانون الدبلوماسی الاسلامی،ص۳۰۴. ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

### دوهمه مطلب- په نړیوالوحقوقوکې ډیپلوماتیک مصونیتونو تاریخچه او مبناء

ډیپلوماتیک مامورین د ډیرو پخوا زمانو او عصرونو څخه را پد یخوا د ډیپلوماتیکو مصؤنیتونو او امیتازاتو څخه برخورداره دي. نوموړی طرزالعمل د ویانا د۱۹٦۱ م کال معاهدې څخه پخوا په عرفي ډول وجود درلود.

### لومړی جز-په نړیوالوحقوقو کې ډیپلوماتیکي مصونیتونو تاریخچه

له پخوانیو رشتو څخه پخوانیو سیارو سفرانو مصونیت درلود؛ په تدریجي ډول یی توسعه پیداکړه بالخصوص وروسته په ۱٦او۱۸پیړیو کې دایمي ډیپلوماتیکي نمایندگیو جوړښت رامنځته شو.د استازو لیږل د یو کار ترسره کولو لپاره د کوربه هیواد له لور د احترام او درناوی په سترگه ورته کتل. په ۱۴۵۰ کال کې لومړي ډیپلوماتیکي هئیت ننی عصر مطابق استول شوي وه۱. په سیاسي چارو کي چندانه مداخله او علاقه نه درلوده.

تر۱۸۵۰کال پوري ، همدارنگه د نمایندگیو په دایمي صورت وروسته ۱۸۱۵ جگړې وین کنگره، په ۱۹۲۷ کې د ملل جامې له لوري اقدامات،۱۹۲۸ د لاتیني امریکا هیوادونو کنفرانس ،۱۹۴٦نړیوال حقوق،۱۹٦۱ د ډیپلوماتیکو اړیکو په ارتباط کنوانسیون، کونسولي په ۱۹٦۳-۱۹٦۹ ځانگړې هیئت. په پخوا وختونو کې د قبیلو ترمنځ هم چې کله د اوبو،ځمکو.ښکار اونور....پرسر اختلاف رامنځته کېدو او دغه. اختلاف په گاونډیانو قبیلو ته د منلو وړنه ویا به یوې ځواکمنې قبیلې کومه کمزوري قبیله په جگړه کې ماته کړه یاهم له منځه یوړه، یاهم کله به چې د دوو قبیلو ترمنځ جگړې ته میلان نه ۲ وه.

نوبیا به یې ډیپلوماسی ته مخه کوله.یاني د یوه استازي په وسیله به یې مقابل لوري خبروو اتروته رابلو.خبرو اترو ته د ناستي اویوې پایلې ته رسیدو لپاره په کار ده، چې دواړو لورو خپل استازي یو-بل ته واستوي،چې استازي به هر ډول مزاحمت څخه پرته تلل راتلل.که به استازی د یوي له لوری ووژل کېدل یا به هم بندي کړي شول؛ نودا معنا یې لرله چې مقابل لوري خبرو لپاره ناستي ته چمتو ندي له همدې امله د ډیپلوماسی په تاریخ کې ترټولو لومړنې اصل چې د بیلا بیلو ټولنو ترمنځ را منځته شوی اومنل شوی،هغه دا ستازیو د خوندیتوب اصل دې. چې همدغه اصل ډیپلوماتیک خوندیتوب د قاعدې

---

-صدر، جواد.ډیپلوماتیکی او کونسلی حقوق:ژباړه اختیار،هجرات الله،ننگرهار،گودر خپرندویه ټولنه۱۳۹۵مخ۳۵. [1]

-د پورتنۍ ماخذ-مخ۳۰. [2]

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسټ هم جوړوي. د استازو وژل،بندي کولو یاهم سپکولو کوم شخصي اړخ نه درلود؛بلکې دغه مانا یې لرله،چې مقابل لورې د استازو د مشر اود ټولې قبیلې سپکاوی کړی دی. همدا لامل کیده،چې استازي لوری سخت غبرگون وښیي.

په لاندې ډول یې په دریو دورو کي مطالعه کوو:

۱-په لومړي دوره کې پخواني یونان او پخواني روم د مطالعې لاندي نیسو.

**الف-پخواني یونان**

په لومړي ځل ډیپلوماتیکي اړیکي په یونان کي را منځته شوي؛ چې په یونان به د دوو بیلابیلو ټولنو ترمنځ کله کله د دیپلوماسۍ په وسیله د ځانگړو استازیو په سبب ځیني برخوردونه کیدل، هو عام نه ول؛ ځکه د یونانیو د ښارگوټو اوسیدونکیو د خپل گاونډي ښار اوسیدونکو د سخت ناسیونالیستي فکر لرونکي ول اوپه دې ډول د هرښار اوسیدونکیو خپل د ښمنان گڼل اوهر رامنځته شوي اختلاف په ژر په جگړې بدلیده؛ هو له دې ټولو سره سره بیاهم یونان، نه یوازې ترممکنې کچې پورې له ډیپلوماسي څخه گټه پورته کړې دي؛بلکې ډیپلوماتیکي اړیکو په رامنځته کولو د پام وړ پرمختګ وکړه اوځیني قواعد یې هم رامنځته کړي دي.د بیلگې په ډول د آتن استازي اړول چې په یوبل هیواد کي چې د اتن هیواد د پلاوي لخوا باورلیک له ځان سره ولري اوکه له دې پرته یې تشه ادعا کوله؛ نومجازات کیدل به. همدارنگه د آتن هرسفیربه چې د خپل ماموریت د محل له ریئس څخه کومه ډالۍ واخیستې وه،نود خپل هیواد د پلاوي څخه په تنبیه کیده. همدارنگه مشهورخطیب د موستن، چې کله په مقدونیه کي د یونان سفیر وه، هم له فیلپ مقدونیه څخه په بډو تورن (ډالۍ)اخیستلو تورن شو.د دې برعکس کله به چې کوم استازی له خپل ماموریت څخه بریالي راستون شوه؛ نو دلته به پرځینو امتیازاتو هم نازول کیدل. هو له دې سره بیاهم د آتن ډیموکراسۍ د ډیلوماسي لپاره پرمختللي بنسټونه رامنځته کړې دي. په همدې وخت کې د کونسلې یا کونسلگرې بنسټ هم په یونان کي کینبول شو[۱]؛

**ب - پخواني او روم**

پخواني روم هم ونشوکولای چي نوروملتونولپاره د ډیپلوماسی کوم ارزښتمن میراث له ځانه ولري؛ ځکه چي رومیان په خپل یو مغرورملت و نوره ملتونه یې له ځان څخه کم گڼل. تل به پدي څخه کي وه چې؛

-صدر،جواد.ډیپلوماتیکی اوکونسلی حقوق:ژباړن اختیار.هجرات الله.گودر خپرندویه ټولنه۱۳۹۵مخ۳۵. ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل سياست اوغوښتنې پرنورو ومني.د روم چلن يوازې په بهرانيو ملتونو خپلې غوښتنومنل ول دهر لارې چې شونې وه حتا دجګړې لار هم خو مذاکراتو اوخبرواتروته پکي ځاي نه ورکول کيدو؛خو له دې سره بياهم لکه څرنګه چې د حقوقو،قانون اونظام رامنځته کول د پخواني روم له ځانګړي خوی څخه ول، پدي مانا چې د بين المللي حقوقواوبهراينو حقوقواصلي پايي همدوې درولي وي؛ نوپه ډيپلوماتيکوحقوقو کي ډيرمحکم قواعد رامنځته کړي دي.

سفير چې اوارتور به يې ورته ووېل، کله به چې خپل ماموريت ته ليږل کيده؛ نو د روم د سنا مجلس له لوري به باورليک ورکول کيده.دهغو ماموريت موده به لنډه به هم و په دې ماموريت کې اوارتورته کوم ځانګړې واکونه نه درلودل اوپه دې خاطر به دهغو ډيپلوماسي څرګندولو کوم فرست نه پيداکيدو.د بهرانيو سفيرانو لپاره چې روم ته راتلل ځينې قواعد وضعه کړې ول.چې د اوسني خونديتوبونه بنسټ ببلل کيږي، دغه خونديتوبه نه ټول شخصي ول، د سفير د اوسيدو ځاي اوکورنۍ په کې نه را تلل او دا ځکه چې هغه مهال سفيران لنډ مهاله ول. سفيران به د لنډ مهالو اواتقافي ماموريتونولپاره استول کېدل له کورنۍ پرته به ماموريتونو ته تلل.

۲- دوهمه دوره

پينځه لسمه پيړۍ د ډيپلوماسی او ډيپلوماتيکو اړيکوپه تاريخ کي نوې دورې پيل ګڼل کيږي؛ چې ونيزيانو يې بنسټ ايښودونکي دي.هغوي د پورتنيو نوښتنو پرته د خپلو استازو موده ،چې لنډه به وه او د يوځانګړي ماموريت لپاره استول کيدل، تر دوکلونو پوري ثابته کړه. په دغې موده کې په ټولې هغه چارې چې د دوو دولتونو ترمنځ اړوندېدې،د استازي د دندې برخه ګرځيدلې وي. په دې ترتيب د لومړي ځل لپاره دايمي ډيپلوماتيکي ماموريت او استوګن ډيپلوماتان رامنځته شول.خولا د ونيزيانو په اند، هغه ډيپلوماسي،کومه يې له بيزانسيانوڅخه زده کړې وه؛ ياني له فريب اومکرڅخه ګټنه، وړاندې نه وه تللي؛ځکه چې دئ ډيپلوماتيکي استازا دنده يوازې ساسې پوري وتړل شوه اودې چلن ټولې اورپا ته سرايت وکړ۱.

نه يوازې له دې مهاله ترڅوپيړيو وروسته پورې ټولوهيوادونو بهرنې ډيپلوماتان يوازې جوسوسان ګڼل اوډيره سخته څارنه به يې ترې کوله؛ بلکې اوس هم کله کله اثرات ليدل کيږي اوځينو هيوادونوکې

[1] - دپورتنۍ ماخذمخ۳۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرډیپلوماتانو بدگومانی اوپریو نه یوډول د هغوي نه څارنه شتون لري. له پینځه لسمې پیړۍ وروسته د لویدیځې اروپا هیوادونو پرملي او دولتي مشخصو واحدونو بدل شول اوقلمرو اوحدود یې هم لږ او ډیر مشخص شول. د هغه مهال د دولتونو اداري سازمانونه که څه هم ساه واخیسته. خو داچې په کې د دولتي ځواک اوملي حاکمیت وجدان راویښ شوی و،نو دهرهیواد وګړیو ترمنځ اړیکوکې ځانګړي حقوق معمول ول. د دولتونو ترمنځ اړیکي هم، چې سیاسی او اقتصادي غوښتنو را زیږېدلې وې، پراختیا موندلې وه اوکم او زیات د ځواکونو ترمنځ یوڅه تعادل رامنځته شوی و.په دغو شرایطوکې؛ که څه هم د اختلاف د حل لپاره د جګړېزو او دوښمنې له منځه نه وتلای وه؛ خوبیا هم د ډیپلوماتیکي اړیکو پراختیا د مذاکرې اوخبرواترو لپاره ډیرمساعد عوامل دولتونو ته په لاس کې ورکول.

همدغه عوامل بالاخره د دې لامل شول، چې دایمي اواستوګن ډیپلوماتیکي استازیتوب معمول شي. دونیزجمهوریت، چې د هغه مهال نړۍ د ډیپلوماسۍ کومه بیلګه ورکړه،په تدریجي ډول یې پراختیا ومونده. دعیسوي اورپا د سیاست په ادارو کي دپاپ ځواک هم پراختیا ومونده اوددې ځواک دپلي کولو لپاره اړینه وه؛ چې پاپ د اورپایې پاچایانو سره خپل استازي ولري.

په شپاړسمه پیړۍ کې دایمې ډیپلوماتیکې استازیتوب په اورپایې هیوادونو کې عادي شوي وه او ورسره استازو هم درجي پیداکړه،چې دلګا او.دې ضمن کې هغه ډیپلوماسي چي په آتن کې د مذاکرې فن ګڼل کیده، په بیزانس کې د تدویر اونیرنګ فن اوپه همدې بڼه ونیزته هم ورسیده. د ماکیاول افکاروپه نفوذپه بشپړه توګه له دوراغو اوجوسوسي سره یوشان شوه او دې رویې دومره رواج وموند؛ چې یوولسم لوئی،د فرانسي پاچا،ډیپلوماسی له جوسوسي پرته بل څه نه ګڼله اونه یی هم له خپلو استازو سره له دې پرته بل څه غوښتل.همدغه لامل شو؛چې دغه اړیکې د یوبل پراستازیو دپاچایانو له سختې بدګومانی سره موجودي وې.دایمي ډیپلوماتیک ماموریت په وسیله اړیکو له پراختیا سره به په تدریجي توګه په هره پلازمېنه کې یوشمیر سفیران پاتي کیدل،چې هغه ټولې ته به یی ډیپلوماتیکي پلاوي ویل کیده. پخوانیو رویوهم په تدریجي توګه د ډیپلوماتیکي مامورینوځینې قواعداو نظامونه دعرف اوعاداتو په بڼه عام کړل اودغه قواعد په اولسمه او اتلسمه زیږدیز پیړۍ کي په ټولو اورپایی ّیوادونو کې د قبول وړګرځیدلي وه.همدغه قواعدول چې د ویانا کنګرې په۱۸۱۵ز کال اوله دې وروسته دآکسلاشاپل کنګرې تدوین کړل او وروسته بیا څوځل په بین المللي کنفرانسونو کې هم بشپړشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-دریمه دوره : د شلمه پیړی، په ځانګړي ډول له دویمې نړیوالې جګړې څخه را وروسته دوره په ډیپلوماسي کي د دوو سترو بدلونونو شاهده ده؛ چې تدریجې سره یی پراختیا وموندله.لومړې داچې دهغو پخوانیو اصولو چې په نوي بین المللي نړۍ کي لاس اوپښي تره ډیره حده پورې تړلې وه.دوهم دا چې ډیپلوماسی مهمې برخې د بهرنیو چارو وزیرانواوځینې نورمهم مسایل دهیواد ونو مشرانو ته انتقال شول.همدرنه بین المللي مسایل چې یو اوزیات شمیرهیوادونه کې د خیل ول.دبین الملي کنفرانسونواوسازمانونو له لاری حل اوفصل کیږي.په نوي ډیپلوماسی کې لاندې تغییرات اوبدلونونه رامنځته شول.

۱- په زیاتو هیوادونوکي سفیر د پخوا په څیردهیواد مشر شخصي استازی نه ګڼل کیږي.هغو هیوادونوکې چې دپخوانیو سنتونو پیروی اوس هم سفیر د شخصي استازي نوم لري. یوازي د خپل هیواد ټولنیز بنسټ ایښودونکې دی،ځکه دهیواد مشر د دولت دځواک مظهردی،چې حقوقي شخصیت یې د دیپلوماتیکي اړیکوبنسټ دي اوپه واقعیت سفیر ددغه ځواک استازي دی نه دهغه شخصي استازی۱.

۲- د سفیر رول یوازې په دې کې دي د دووهیوادونواړیکو کې ګټه ور تصمیم نیولو لپاره اړین معلومات تر لاسه کړي.همدارنګه پدي کي هم رول لري،چې د دوملتونو ترمځ اړیکو،پیژندنې او دوستي وسایل رامنځته کړي.پردغو وسایلو یوسفیر کولاي شي،د دواړو اړخونوغوښتنو اوعقایدو ته په ډیره غوره طریقه ترتیب کړي او هم کولاي شي؛ دبین المللي اړیکو د پراختیا لپاره دوه اړخیزه همکاری رامنځته کړي

۳- په زیاتو هیوادونوکي عمومي افکارو دډیپلوماسي په لارښوونه اغیزمن رول لوبوي. اوسنیوګړندیوارتباطي وسایلو د هیوادونو وګړي د نړۍ سیاسي پیښوپه جریان کې اچولي دي د سیاسی چلن اومحرمانه ډیپلوماسي کیدای شي د وګړو د ارادې له مقاومت سره مخ شي،په هغو هیوادونو کي چې ډیموکراسی رژیمونه لري،په ډیرو کلکوبنسټونو ولاړ وي اوباید دسولي او پرمختګ لپاره وکارول شي،نه دحکومتونو دغوښتنو ترلاس کولولپاره.

۴- د هیواد ونومشرانو شخصیت او درناوي له پلوه اوپه حقوقي اوعمومي لیدنوکې یی صریخه خبرواترو له پلوه،یوه نوې اغیزمنه لاردمهموبین لمللي مسایلو د حل لپاره پرانیستې دهچې له دې سره د هرهیواد

---

۱- د پورتنۍ ماخذ،مخ۴۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیپلوماتیکي مقامات هم د ډیپلوماسۍ ډگر ته رادانگي. په عین حال کې د بیلا بیلوسیاسي اوفني مسایل،دبین المللي ټولنو اود بین لمللي سازمانونو په سطحه.،په خپل وجود کې یوه ترټولوغوره وسیله لري،چې همداخپله یوه بیل ډول ډیپلوماسي ده اوځانته مشخص قواعد یې پیداکړي دي.

**دوهم جز-په نړیوالوحقوقوکې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونومبناء**

لکه څرنگه چې د ډیپلوماتیکي اړیکوله تاریخ څخه ښکاري؛ هیوادنو هیڅ کله هم ډ یپلوماتیکو امتیازونواو خوندیتوبونو ته لیوالتیا نه درلوده. خو له دې سربیره ،هغوي په عملي توگه په ټولوبرخوکې هغه منلي اورعایت کړي دي. په پایله دا پوښتنه مطرح کیږي، د ډیپلوماتیکي امتیازونواوخوندیتوبو منطق اویا په بل ډول ،دهغه حقوقي بنسټ موخې او وجودي علت څه شي دی؟

ددې۱ موضوع اهمیت اوبیلابیلو نظریاتوتفاوت په دې کې ،چې دا خوندیتوب،په هغې پراختیا سره چې معمول شوي دي، له مسلموحقوقي اصولوحخه مخالف ښکاري؛ ځکه د کلي اصل پربنسټ،د یو دولت حاکمیت پرهرهغه کس اوشي باندي شته ،چې په قلمرو کې یی واقع وي اود دغه دولت قوانین د خپل قلمروپه داخل کې دهرکس اوشي په اړه داجراء وړدي، مگرد هغو مواردو په استثناء چې په قوانینوکې ذکرشوي وي. دا رښتیا ده؛ چې اوسنۍ ډیپلوماتیکي خوندیتوب د هغه تړون پربنسټ دي، دلاسلیکوونکو دولتونو د صلاحیت لرونکومقاماتو لخوا تصویب شوي وي اود یوداخلي قانون پرڅیر د اجراء وړ وي، خودغه تړونونه ډیرپخواني نه دي اوپیړۍ وړاندې دغه خوندیتوبونه د سنتونواوعرف اوعاداتو له مخې معمول ول اوسمهال هم سره له دې چې دغه بین المللی تړون موجود دی، که یو دولت دغه تړون لاسلیک کړي نه وي اویې تصویب کړي نه وي، بیایی هم مقررات اجراء کوي اوهغو دولتونو چې دغه مقرارت یې تصویب کړي دي، بیایی هم په خپلوداخلي قوانینوکې ورته اشاره نه دی کړې، په ټولوکې پدي اړه نظریې مطرح شوي دي:د نماینده گۍ، له قلمروڅخه د بیرونیت نظریه(خارج الممکتي)، د خدمت د مصلحت نظریه اومتقابل د نمایندگۍ چلن نظریه.

**الف- د نماینده گۍ نظریه**

دا نظریه د پخوانیو سنتونوپربنسټ ولاړه ده. په لومړیو وختونوکې هرې قبیلي اوقوم د رئیس په شخصیت کې د خپل قبیلې اوقوم شتون معنکس نه وه، د قوم اوقبیلې رئیس به چې هرڅه خوښه وه.د

-بی‌گدلی،رضیایی.حقوق بین الملل عمومی،۱۳۹۶،ص۳۷۲.. ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل قوم اوقبیلې له نوم پرته به یی ،بی پرخپل نوم کول.د بل قوم یا قبیلې د رئیس پروړاندې استازی به یی، ځانګړې (شخصي)استازی ګڼل کیده. هغه مهال، چې ټولنې تشکیل شوې اونوي تمدنونه رامنځته شول،هم په دغه اساس کې کوم تغیر رانه غي اوله آتن اوپخوانې روم تاریخ له ځینو دورو څخه پرته ملت او دولت کوم ځانګړې مهفوم نه درلود. له شپاړه سمې پیړۍ څخه را وروسته، سره له دې چې ملت،ملي وجدان اودولت حاکمیت نوي مفهوم پیداکړه؛ خوبیا هم د یوې ټولنې شخصیت اوشتون د پاچا په شخصیت کې ځلیده اوسفیرهم د چاپا د شخصیت ښکارندویه و.

همدغه لامل کېده، چې بایدسفیر ته داسی امتیازات ورکړل شي،چې د استوونکې پاچا له شان سره بر ابروي. په عین حال کې، په حاکمیت د مساوات اصل هم ټول خپلواک دولتونه په یوکتارکې سره ودرول شي. چې په پایله کې هیڅ دولت رئیس د بل هیواد د رېیس تابع کیدای نشو اوطبعاً سفیرهم باید د بل هیواد د قوانینوتابع نه اوسي. دغه نظریه، چې د هغه مهال د معمولې اوعمومې رویی پربنسټ ولاړه وه.د فرانسې ترانقلاب پوري په بیلابیل لارو(طریقو)د لیکوالوانو له خوا بیان شوي ده. منتسکو په خپل کتاب (روح القوانین)کې لیکلې دي: (هغوي(سفیران)د هغوپاچایانو ژبې دي ،چې استولي یې دي اودغه ژبې آزادي اوسي. که هغوي (سفیران)د استازیتوب له دغه صفت څخه ناوړه ګټه پورته کړی؛ شونې ده. چې، خپلوهیوادنوته یی رااستولومخه ونیول شي ). منتسکو په دغي لنډې غونډله کې هم د ډیپلوماتیکې خوندیتوبونو فلسفه اودناوړې کټنې په صورت کې اجرا ضمانت بیانوي له اولسمې پیړۍ څخه را وروسته، د ځینو لیکوالونو په آثاروکې د ملت حاکمیت، د پاچاهانو استبدای اوشخصي ځواک په مقابل کې د ټولنیزسازمان د بنسټ په توګه راغلی دی. روسو دولت یا حاکم ځواک د وګړواستازی(د یوټولنیز ترون له مخې)وګاڼه اومنتسکو د دولت حاکمیت له ملت څخه را زیږیدلای یادکړ؛ خوله دغونظریو سره سره بیاهم د سفیرد استازیتوب نظریه؛ لکه څرنګه چې منتسکوبیان کړې وه، په بشپړه توګه نه وه پریښودل شوي؛ ځکه لا هم د دولت اوملت ماهیت اوپه خپلو منځوکې حقوقې اړیکه روښانه شوي نه وه.

یوشمیر نورو لیکوالوانو د ملت حاکمیت نه ردیدونکې واقعیت ګاڼه اود سلطنت قدرت یی له ملت څخه را زیږیدلای۱ د ځینو نورو په اند پاچاهان د ملت اودولت د شتون اود حکومت د ځواک ښکاریدیان ول.

-دایران دپخوانۍ رژیم داساسی قانون دبشپړوونکی (متمم)پینځه دیرشم اصل هم په همدې مانارا‌غلای ، ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځینو نوروپه اند بیا ملت، دولت اورئیس ئي دری واړه یو واقعیت و،چې په بیلا بیلو بڼو ښکاریدل. د سلیقو دغه اختلافونه تردې د مخه ملاخظه شوي دي، په هغو آثاروکې، چې پردغو پورتنیوبیلا بیلونظریاتو ترتیب شوي دي، یونظریی دا دي چي سفیرد یوملت استازی دي. د پاچاه یا ولسمشر؟ که په دې اړه دهغو نظریات په پام کې ونیول شي. ملت له دولت څخه بیل ګڼې، دولت د ملت پرنوم استازیتوب خپله د ملت د ګټواو مصالحولپاره سیاست طرح کوي، چې سفیربیا دغه سیاست د خپل هیواد د مشرلخواد خپل کارپه محل کې اجرا کوي. په دغه صورت کې سفیرپه واقعیت کي د خپل دولت استازی دي.نه د دولت د رئیس شخصي استازی۱.که چیری ملت په دولت کې د حل وي اود دواړو نه بیلتون نظریه  د منلو وړ اوسي؛ نوپدي صورت کې سفیر د هغه استازی ګڼل کیږي، چې د دغو دوو د شتون ښکارندویه اوسي اوپرهمدې بنسټ د هغه ځانکړي استازی دی.لکه څرنګه چې تردې د مخه ولیدل شول، چې په کلي مفاهمیوکې نظریاتو اختلاف کوم غوڅه لاسته راوړنه نه درلوده، اوهمدغه لامل دي، یوه بله نظریه چې دولت د ملت حقوقي شخصیت معرفي کوي، ترزیاتې کچې په خپلوکې د حقوقي اړیکې ښکارندویه دي،خوپه هرحال د ملت د حقوقې شخصیت په توګه د هیواد د مشراختیارات، سفیر یوازې د هغه په مقابل کي مسوولوي، یا په بل عبارت دهغه د شخصتي استازیتوب کیسه کوي. دا نظریه هم ټول په یو ډول نه قانع کوي.

په دې دلیل که دغه استدلال په هغوهیوادونوکې، چې سلطنتي رژیمونه لري، د هغو له حقوقي سازمان سره سم؛ خوپه هغوهیوادونوکې جمهوري رژیمونه لري، قبلول یی بی ستونزونو دي اوڅنګه کولای شوویوو،چې د شوروي یا هندوستان ، سفیر د دغو هیوادونو د رئیسانو شخصیي استازی دي.د استازیتوب د نظریی مخالفین، پرته له دې چې د ملت اودولت بخث ته نږدي شي، وایی چې د دولتونوپه حقوقي سازمان کې هیواد مشردهیواد اوترحکومت لاندې ټولنې څښتن نه دی، چې په یو بهرني هیواد کې دې سفیر د هغه شخصي استازی وګڼل شي.۲بیلکې د هیواد مشرخپله د هغه ملت استازی دي، چې د قدرت دولت یې ورسپارلای دی اود هغه سیاست اجراء کوونکی دی، چې د ملت د

۱-دیپلوماتیکی ژمنلیکونوکې،چې وروستې هغه ی‌ې په(۱۹۶۱)زکال کې لاسلیک شو،په ټولوځایونوکې یی ډیپلوماتیکی مامور دولت داستازی په نوم یادیږی.

-کایر،ډیپلوماتیکی حقوق(۱۹۶۴)زکال. ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصالحواو ګټولپاره طرح شوي دی اود هیواد مشرپه خپل نوبت سره سفیر د دغه سیاست اجراء لپاره ماموروي.

د هغه په اند د دې لپاره چې(سفیرد هیوادمشرله مامورشوی دی؛ خودهغه شخصي استازی نه دي)ترټولو روښانه دلیل دا دې، چې د سنتي بین المللي حقوقو په رویو اوعرف کې هم سفیرپه یوبهرني هیوادکې د خپل هیواد له مشرڅخه ډیر خوندیتوب درلود؛ خوله دې ټول بحث سره سره بیاهم ځینولیکوالونو(د سفیر د هیواد مشرد شخصي استازیتوب نظریه)نه ده پرییښې۱ اوحتا ځینومحکموهم پرهمدې نظریې استناد کړي دی۲.له دې پرته په عملي توګه هم په ځینو هیوادونو کې د سفیر د شخصي استازیتوب اصل؛ هغه بنسټزاصل وي اود یوسنت په بڼه وي،جلوه ګردي.

**ب - له قلمروڅخه د بیرونیت نظریه(خارج الممکتي)**

د استازیتوب له نظریې سره همهاله له قلمروڅخه بیرونیت، نظریه هم رامنځته شوه، چې له هغې څخه ډېره اصولي ښکارې اوله اولسمي پیړۍ څخه راپه دیخوا دود شوي ده، چې نن ورځ هم پرې یوشمیر هیوادونه اسنتاد کوي. د دغې نظریې پربنسټ سفیر د یوې فرضې له مخې د کوربه هیواد له قلمرو اوله قانوني قدرت څخه بیرون اوسی او داسی لکه چې هیڅ له خپل هیواد څخه وتلای نه وي. له دې وروسته یې له دغې فرضې څخه خپله د سفیرد شخصیت په اړه یوه کلي نظریه جوړه کړې ده، چې پربنسټ یی د سفیر کور اود کارځای هم د هغه د هیواد د خاورې برخه ګڼل کیږي، چې د هغه د کوربه دولت له قانوني ځواک څخه بیرون دي.

د دغې نظریې نوښتګرپه اولمسه پیړۍ کې د هالینډ پیژندل شوي حقوقپوه هوګو۳ ګروسیوس دی، چې په خپل کتاب کې لیکي:((د بین المللي حقوقو له مخې د سفیر په شخصیت کې د هغه د هیواد مشر د شخصیت تجلي یوه فرضیه ده او د افرضیه له دغې فرضیې سره ورته ده، چې وایی:سفیر د هغه دولت له خاورې څخه بیرون دې،چیرته چې دنده ترسره کوي اود دې پایله دا ده. چې سفیرمکلف نه دی، د هغه هیواد  قوانین ومني، په کوم کې چې مامور دي.)) دغه نظریه د حقوقي سلیقې لخوا ومنل شوه اوپه ډیرې چټکۍ سره دود شوه. ډیرو لیکوالونو له همدې نظریې څخه ګټنه وکړه اوحتا د ځینو

---

په عمومی بین المللی حقوقوکی(۱۹۲۶)لکه واتل چې دسفیراستازیتوب منی؛خوله دې څخه بله پایله اخلی.fauchille-- ۱

قضیه په(۱۹۱۲)زکال کې،له کایرڅخه نقل(۱۹۴۶)schooner exchang--۲

hugo Grotius-۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو رويو، حقوقي بنسټ پرې کيښودل شو،چې په سنتي بين المللي حقوقو کې معمولي وه.د بيلګې په توګه د دولتي اوجنګې کښتيو لخوا د خپل هيواد د قوانينو متابعت کول، کله چې د درياب په منځ کې وي يا هم د بل هيواد په ساحل کې يا هم د سفر پر مهال د کښتيو پر داخلي اشخاصو د هغه هيواد د قوانينو اجراء چې کښتيې يې د بيرغ لرونکې ده۱،خوبياهم د دغې نظريې قبلول اوعامول يې په الزامي توګه ډير زيات آثار لرې، چې ټول يې مردود دي اومهترين يې په لاندي ډول دي.

۱-هغه جرايم چې د سفير په کورياهم په کارځای کې رامنځته کيږي، که د سفير د متبوع هيواد د قانون تابع اوسي؛ نو د ناچارې له مخې بايد خپله سفير د خپل هيواد د قوانينو اجرا کوونکې يا قاضي شي.

۲- که يوتورن د سفيرپه يا کارځای کې پناه واخلي، نودهغه متبوع دولت مقاماتوته سپارلو لپاره يې بايد د استرداد ټول تشريفات ترسره شي.

۳- هغه ماشومان چې د کوربه دولت تابعيت لرونکيو موراوپلارڅخه(لکه د کوربه هيواد تابعيت لرونکی مستخدمين) د سفير په کور يا  کارځای کې وزيږي؛ نو د ناچارې له مخې بايد د سفير د دولت تابعيت خپل کړي.

۴- له کور اوکارځای څخه بيرون د ډيپلومات شخصي خونديتوب نور له قلمرو څخه بيرونيت نظريې سره تطبيق نه پيداکوي.

پورتنې پايلې نه يوازې دا چې يوکلي بنسټ يا منل شويو اصولو ارونکې نه دي؛ بلکې بين المللي رويه عرف سره هم په ټکر کې دي. که څه هم له دې څخه صرف نظرف نظر وشي،چې د سفير د قضاوت صلاحيت هيڅ کله هم عام مقبوليت نه دي موندلاي اونه هم عمومي معموله رويه ګرځيدلې ده۲.د سفير د احکامو مسله هم داسې بيځوابه پاتې ده. په سفارت کې د پناه اخيستونکې په اړه هم بايد وويل شی، چې هيڅکله د دولتونو ترمنځ د سنتي بين المللي حقوقو په عرف کې مطرح نه ول اوهم ماشومان، چې د سفارت په داخل کې زيږدلي وي.څلورم مورد ياني د سفيرشخصي خونديتوب، له قلمرو څخه د بيرونيت اصل سره په مغايرت کې دي؛ ځکه که د سفارت محل د بهرني هيواد برخه فرض

-اوسمهال ددغو دووقاعدو بنسټ پرنورو اصولو ایښودل شوی دی،چې په دې کتاب کې پرې بحث نه کیږی. ۱
-دکاپیتولاسیون یو استنثایی تاسیس و،چې اوس شتون نه لرې او دبین المللی حقوقوپرقواعدو متکې نه ول. ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو؛ خوبیا هم په هیڅ وجې نشوکولای چې دغه فرض ترهغو کوڅو اوځایونو پوري پراخه کړو، چې سفیرپکې تگ راتگ کوي. د دغو واقعیتونو اوبیځوابه پوښتنو له امله د نولسمې پیړۍ د وروستیو یوشمیرلیکوالونو، له قلمروڅخه د بیرونیت نظریې صحت رد کړی دی اوځینو خوبیخې پرې کرښه راکښلې او په کلي ډول یی رد کړې ده، خوځینې نور بیا دهغوی برعکس پرهمدې نظریه پاتې شوي دي. پدې اړه د دغو دوو ډلو لیکوالو د گروهو غبرگون کولای شو د بیلا بیلومحکمو په رایو کې وگورو ۱ واتل چې د اتلسمې پیړۍ سویسی حقوقپوه د ډیپلومات دی، دی د هغو مشهورولیکوالو له ډلې څخه دی، چې په غوح ډول د دغې نظریې له ردولو څخه پرته یې د نورو په څیرد دې نظریې صحت یې رد کړې دی او داسی تفسیر یې کړی دی،چې وروسته ترمصلحت نظریه رامنځته شوې ده.

یوشمیر نورو لیکوالو لکه سیل هرست۲ پریوې بلې طریقې له دغې نظریې څخه انکارکړی دی او د هغوپراند د کوربه دولت د قوانینود درناوي په اړه د سفیرانو مکلفیت(چې نه رد ېدونکی اصل دی)له دې څخه نه دی زیرېدلای دی چې پرهغو لازمې ده، د کوربه دولت د قوانینو اطاعت وکړي،بلکې له دې څخه زیږېدلای دی چې سفیران له هرې هغې کړنې څخه ځان وژغوري چې د کوربه دولت له گټو سره په ټکر کې وې. پدې استدلال کې په ضمني ډول د کوربه دولت د قوانینو په اړه دسفیرالزمیت هم نه راځي.

**ج- د خدمت د مصلحت نظریه**

واتل لیکي دي۳ که چیري په سفارت کې د خپلې دندې پرمهال د کوربه دولت له خاورې څخه بیرون فرضیږي؛ نوپه دې مانا ده، چې د ټولو حقوقو اوخپلواکې لرونکی دی، چې د هغه د کار د پرمخبیولو لپاره موثر دي. پرهمدې بنسټ د سفیر د خپلواکۍ اود کوربه دولت د قوانینو له تعقیب څخه حلاصي،د

---

-●ددې اصل دقبول په اړه۱۹۲۶ز کال کې فوگل قضیې په اړه دجینوا محکمې رایه،چې دیوۍ سویسۍ نجلۍ لخوا دخپل ناوړه ماشوم دپلارتوب دنسب ادعا پریو یوگوسلاوی ډیپلومات کوله.محکمې ددغې دعوه په دې دلیل ونه منله،چې یو گوسلاوې ډیپلومات له دعوه کوونکې نجلۍ سره نزدیکت پرمهال،په سویس هیواد حاضر نشی گڼل کېداې،چې دسویس دهیواد دقوانینوتابع دی اوسی. ددې اصل درد په اړه:په ۱۸۸۰ز کال کې دلاپیزیک محکمې رایه،چې وای ې(له قلمرو څخه بیرون،اصل تفسیر ترهغه حده موثر دی،چې یوازې سفیراو ملگری یی په کې شاملیږی)په همدې ډول دپاریس محکمې په ۱۹۲۲ز کال کې دهغه ماشوم دتابعیت په اړه: چې دیو بهرنۍ هیواد په سفارت کې زیږیدلای و.حکم وکړ چې سفارت خوندیتوب لری؛ خو دفرانسې دخاورې برخه ده

(کایر،معاصر ډیپلوماتیکې حقوق،۱۸۸مخ.) ۱

-ډیپلوماتیکی خوندیتوبونه،۱۹۲۶. cecil hurst۲

-داتلسمې پیړۍ سویسی لیکوال وډیپلومات،په (بین المللی حقوق)کتاب کې،له کایر څخه رانقل ،۱۹۰مخ. e.vattel۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د کار د پرمخبیولو د اړیتا اومصلحت په خاطر دي. دغه نظریه،چې وروسته بیا ټولو لیکوالو تائید کړي ده، د۱۹٦۱ز کال د ویانا ژمنلیک په سریزه کې په صریحه توگه په دې ډول راغلې دی.( په ډاده توگه ویلای شو،چې خوندیتوبونه اومزیاوې د امتیازپه توگه اشحاصوته نه ورکول کیږي؛بلکې په موثره توگه دډیپلوماتیکي ماموراېتونو دندوترسره کولوپه خاطر د دولتونو استازو ته ورکولو...) له دې نظریی څخه کولای شو ووایوچې د ډیپلوماتیکي اړیکې دواړو دولتونو له دې سره علاقه لرې،چې په خپلو کې دوستانه اړیکې وساتې. د هغوی د سفیرانو څخه بیرون خوندیتوب د دواړو دولتونو په گټه دي.

د مصلحت نظریه په واقعیت سره تطبیق ده اوله کور اوکارځای څخه بیرون د ډیپلومات شخصي خوندیتوب، چې له قلمرو څخه بیرونیت اصل سره معایرت پیداکوي، توجیه کوي اوپریو سم منطق دغه خوندیتوب د سفیر کورنۍ ته شامليږي. د ځینو لیکوالو لپاره د دې نظریې د رد اویاهم کمه ترکمه د روغتیا په اړه یې یوبل ټکی هم مخې ته شوي؛ ځکه که یو ډیپلومات شخص لپاره خوندیتوب مصلحت او اړتیا یومصداق لري؛ نود ډیپلومات لپاره د مالیاتي معافیت موضوع اونوره مزایاوې د اصولو له مخې له هغې سره کومه اړیکه نه لري. د دې لپاره چې د بیلگې په توگه د مالیاتو یا عوارضو ورکول یاترې معافیت اوگمرکي تفتیش نه کول واقعا د ډیپلومات له ښې دندې ترسره کولو سره کومه اړیکه نه لرې. د دې خواب د خوندیتوب اومزایا په طبیعت کې تفاوت دي؛ خکه د خوندیتوب پرخلاف د اصولو له مخې مزایا حقوقی اړخ نه لري؛ بیلکې د نزاکت له مخې شتون لری، چې په تدریجي اومتقابله توگه معمول شوي دی. د مزایاووشتون د ډیپلوماتیکي دندوله ښه ترسره کولو سره کومه اړیکه نه لری اویوازی د ډیپلومات مقام ته د درناوې په خاطر دي اوپه همدې خاطر تری تخلف یوه حقوقي قضیه نه رامنځته کیږي.

**د) د متقابل چلن نظریه**

ځیني لیکوال دا اړخ د یوې نظریې په توگه نه مني اونه یی هم یادونه کوي؛ هو ځینې نور یی لکه کایر،د اړتیا او مصلحت له نظریې ملگرې کوي. داسی تصوريږي، چې دغه اصل هم کولای شو د یوي نظریې په توگه وړاندې کړو، چې زیاتره یې عملي جنبه لری او یوازې په خوندیتوبونو اومزایاوو پورې تړلې نه پاتي کیږي. لکه څرنگه چې سبیرپه کتاب کې، د بین المللي حقوقو قواعدو اجرایوي ضمانت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې اړوند څپرکې بحث کوې۱ ، د مخه ترد دې چې بین المللي سازمانونه رامنځته شي، په بین لمللي اړیکو کې د قبول شویو قواعدو د اجراء د ضمانت په توگه یوازې تلافي (غچ یابدل)موجود وه۲.غچ،چې په لومړنیو اړیکو کې د دووطایفو ترمنځ معمول و،د یوتنبیهي عمل په توگه پرمختلف لوري د مجازاتو په موجود واو د یو پخوانې قاعدې او قرارپربنسټ به یی رعایت هم لازمې گڼل کیده. د هم شونې ده، دغه مجازاتي عمل له تخلف سره ورته نه دي. د بیلگې په توگه که یو دولت یوه معمولي قاعده رعایت نه کړي؛ نو بل دولت به یی په مسلحانه توگه غچ اخلي؛خو دغه ډول مبالغه په استثنایی توگه کله کله کیږي.هغه څه چي د بدلي یاغچ اخیستلو په توگه دود دي، دا دي د تخلف په صورت کې زیانمن شوی دولت هم هماغه تخلف کوي، کوم چې مختلف دولت کړي دي. لکه که یو دولت سفیر ته سپکاوی وشی؛ نو دا دولت هم د هماغه دول سپکاوی کوي،چي سفیرته یی شوي، چي همدې عمل ته متقابل عمل ویل کیږي۳

دغچ او متقابل عمل د پرتلې په اړه کولای شو ووایو،چې غچ یوازیني او ترټولو موثرترین ضمانت و،چې سنتي او بین المللی حقوقو کې به یی له ژمني یا یوې منل شوې قاعدې څخه د تخلف په صورت کې شتون درلود؛ خو متقابل عمل دهرې روېی د اجراء تامین لپاره یوضمني تفاهم او قرار دی، چې ترمعمول حده پورې د دوو اړخونو ترمنځ شوی وي، اگر که دغه قاعده او رویه لا رسمي شوي نه وې. په بله مانا متقابل عمل باید تل د مخه ترسره شوی وي عمل سره مناسب او یو ډول اوسي. له دې امله کتلای شو، چې نه یوازې په ډیپلوماتیکو اړیکو کې غچ اخیستنې او له متقابل عمل سره د مخیدنې وېره، د دې ضامن کېدله چې د دولتونو ترمنځ ژمنیه عرفي اوعرف اوعادتی قواعد رعایت شي؛بیلکې په ځانگړې ډول د سنتې ډیپلوماتیکو اړیکو په ټولو مرحلو او اړخونو کې همدغه متقابل عمل د قواعدو د اجراء ضامن گڼل کیده، پرته له دې چې په دوه اړخیزو ژمنلیکونو کي به یی یادونه شوي وه.

په نویو ډیپلوماتیکي حقوقوکې پرعمل بیابیا بحث شوي دي،هغه مهال چې د ملگرو ملتونو سازمان، د بین المللي حقوقو کمیسیون د ویانا ژمنلیک د موادو په راټولو اوبررسی بوخت واو په دې اړه یې د دولتونونظرونه او وړاندیزونه وغوښتل؛ نو له دیارلسو څخه زیاتو دولتونو وړاندیز وکړ، چې ډیپلوماتیکې

---

سیبر،عمومی بین المللی حقوق،۱۹۵۱،لومړی ټوک. ۱

-په فرانسوی ژبه اوrepresaille۲

-sibertعمومی بین المللی حقوق،۱۹۵۱،لومړی ټوک. ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونديتوبونه اومزاياوي دې د متقابلې معاملې پرشرط وړکړل شي. د ډېرو هيوادونو داخلې قوانينو، ډيپلوماتيکې مزاياووپه برخه کې د متقابلې معاملې شرط تصريح کړي دي؛ خو ويانا ډيپلوماتيکې ژمنليک په قصدې عمل په توګه دغه اصل ته پاملرنه نه دې کړې. ددې نظريې د مخالفينو په اند، د متقابل عمل شرط د تصريح کولوپايله شوني ده داشي چې متقابل رفتار د غچ اخستنې پرمهال له عادي حد څخه تجاوز وکړې اوپه خپله يو شديد متقابل عمل وګرځي او په دې ترتيب دواړو عملونو د ورته والي اصلي شرط له منځه لاړشي. له دې پرته که ومنل شي، چې د قواعدو رعايت دې پرمتقابل رفتار مشروط شي؛ نو په دې صورت نه يوازې دا چې اړيکې دواړواړخونو يود بل د متقابل رفتار په انتظار،په ابهام د يو بل پر وړاندې بی تفاوته پاتې شي؛ بيلکې په توګه يوهيواد کې له سفيرانو سره د ډول ډول متقابلو رفتارونو په سبب بيلابيلو متقابلو روفتارونه د نورو ستونزو د رامنځته کېدا لامل شي. بايد ووايو،چې په ويانا ژمنليک کې د دغه قيد نه تصريح کول د متقابل رفتار له اصل څخه څه شي نه شي را کموي او اوسمهال په عملي توګه ټولو دولتونو ته معلومه ده، که له قبول شويو قواعدوڅخه تخلف وکړي؛ نو بايد د ورته يوې رويې تحمل هم پيدا کړي.

شونې ده دولتونه د ژمنليک د مقرارتو د رعايت په اړه د متلف هيواد له عمل څخه يوبيل ډول مکلفيت ولري، د دې لپاره چې دوري تسلسل پيدانه کړي.د هغه دولت لپاره چې د متخلف هيواد له تخلف څخه متاثرشوي دی، د جبران لپاره تل دوه لارې شتون لري؛ يوه يې هم د ډيپلوماتيکو اړيکو په پرې کول لاس پورې کول او دويمه يې هم متقابل عمل کول دي. که څه هم د ويانا د١٩٦١ز کال ژمنليک دپورتنيو دلايلو پربنسټ د متقابل رفتار شرط نه دي منلاي دي او د دې ژمنليک دمقرارتو درعايت په اړه يې د دولتونومکلفيت له هغو عملونو څخه جدا کړي دي،چې يو څو هيوادونه يې په استثنايی توګه ترسره کوي؛خو بيايی د متقابل رفتاراصل په دې دليل چې په عمل کې ترې ځان نشي ژوغورلي په اووه ويشتمه ماده کې تريوځاي پوري منلي دي.د دغي مادې له مخې له مخې دولتونو بايد د دې ژمنليک د مقرارتو د اجراء پرمهال د ډيپلوماتيکي ماموريتونو ترمنځ تبعيض ونکړي؛ هو که يو دولت د دغو مقرارت د يو بل دولت د ډيپلوماتيک ماموريت په اړه په محدود ډول اجراء کړي؛ په دې نوم چې هغه دولت هم دغسی کړي دي، د مقرارتو دغه محدود اجراء کول(چې په حقيقت کې متقابل عمل دی)تبعيض نه ګڼل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

# په اسلام او نړیوالو حقوقوکې ډیپلوماتیکي مصؤنیتونونه (تحلیل اوتجزیه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی مبحث -په اسلام اونړیوالو حقوقوکي کې د ډیپلوماتیکې مصؤنیتونو

په اسلام اونړیوالو کې د ډیپلوماتیکې مصؤنیتونو ډولونه په اسلام اونړیوالو حقوقوکي په لاندې ډول تربحث لاندي نیسو.

### لومړي مطلب- د ډیپلوماتیکي مامورینو مصؤنیتونه

پخوا به سفارتونو کړنې لنډ مهاله وي اودایمي سفارتونه موجود نه ول، دا ځکه چې د ملتونو ترمنځ په ډیرې وختونه جګړې روانې وې اوخپل منځي اړیکې به یې کمزورې وي١.په اولسمه پیړۍ کې دایمي سیاسی نماینده ګیو له رامنځته کیدو څخه وړاندې په سیاسی استازو د خپل هیواد څخه بهرپه نورو هیوادونو کې د لنډ مهاله اوسیدو اوپاتې کیدو حق درلود. سیاسي استازو ته څرګندې یاضمني ورکړل شوي پناه پرنظرنې د بیا کتنې له مخې اسلام د دایمي نمایندګیو په منلو کې کوم خنډ شتون نه لري، حتي تردې که چیري د نظریې وړ دنده هم ختمه شي وي، نو د کومې ځانګړې پناه اخیستلو اړتیا نشته.حنبلي فقهاوو پناه اخیستونکي او سیاسي استازي ته کوم ځانګړې وخت ټاکلوڅخه پرته مطلق ډول رواګڼلي٢.د دې خبرو د اثبات دلیل دا هم دی چې له غیر مسلمانانو سره د مسلمانانو د اړیکو بنسټ پراسنادو ولاړ دی،نه پرجګړې اوهمدارنګه د بالمثله کړنې اصل هم د خپل منځي ډیپلوماتیکو اړیکو بنسټ جوړوي.نړیوالو حقوقوډیپلوماتیکې استازو اوکونسلانوته یو لړځانګړي امتیازات قبول کړیدي، ترڅوهغوی خپلې چارې په ښه صورت ترسره کړې اود مقابل احترام پربنسټ پراصولو عمل وشي، د سفیرانو سفارتي خوندیتوبونه په لاندي ډول دي.

### لومړي جز- په اسلام کې د ډیپلوماتیکي مامورینو مصؤنیت

اسلام سیاسي استازو او سفیرانو ته بیلابیلو اړخونو نه  خوندیتوب، خوندي ځای ورکولو،مناسب احترام کولواو پاللو مسولیت په غاړه اخیستي، که څه هم مسلمانانو سره یې ناوړه چلن هم کولو اود دې لپاره

---

-المنجد،ډاکټرصلاح.رسل الموک ومقدمه،٩٣مخ. ١
-المحررفی فقه النبلی،٢ټوک،١٨٠مخ. ٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ترڅو دا وګړي خپلې دندې ښه شکل اجرا کړي اود نړۍ د سوکالۍ اوارامۍ له لامل وګرځي. په اسلام دین د سفیرانو اوسفارتي خوندیتوبونه په لاندي ډول بیان شوی دي.

۱-له تیری څخه مصونیت

په بین المللي اصطلاحاتو کي د دې خوندیتوب مانا دا ده؛ چې د یوشخص یا یوځاي حرمت اوحقوق د نقص یاماتیدو وړ نه اوسی، د ځای حرمت مانا دا ده چې؛ له اجازې پرته څوک داخل نشي او د شخص حرمت دا چې د هغه آزادۍ اوحقوق مات (نقص) نشي؛ خودغه حرمت نه یوازي د ډیپلومات په ځان او سفارت پورې تړلي ندي؛ بلکې په هرډایموکراتیک رژیم(نظام)کې د اساسي قوانینوله مخي هرکس اوکور له دې حرمت څخه برخمن دي. هغه تفاوت چې دعمومي کورونواواشخاصوحرمت د سفارتونوځایونواوډیپلوماټانو له حرمت څخه بیلوي، دا دي چې دعمومي کورونواواشخاصوحرمت د قانون په ځانګړو مواردو کي ماتیدني اوسلبیدلای شي، پداسي حال کي سفارتخانې اوسفیرانوکورونه د حرمت اوسلبیدو وړنه دې او هیڅ قانون نشي کولای چې پرخلاف عمل وکړي۱.

شخصي مصونیت(خوندیتوب):

د دې خوندیتوب له مخي د سفیرځان، مال، دفتري سامان آلات اوسفارتخانې خوندي ده اوپردغوڅیزنوهرډول تیری اوتجاوز ممنوع ګڼل شوي. د دې مبارک آیت شریف دولت مکلف دي چې د سیاسي نمایندګیواو ستازوخوندیتوب ته پاملرنه وکړي.((وان من المشرکین استجارک فاجره حتی یسمع کلم الله ثم ابلغه مامنه۲)).ژباړه:. که چیري له مشرکانوڅخه یوکس له تانه پناه وغواړي، نوپناه ورکړه هغه ته، ترڅو دوی واوری کلام د الله جل جلاله او بیایي د هغه د امن ترځایه ورسوه اودا له دې وجهې داسي قوم دی. چې، نه پوهیږي. ظاهرا دغه آیت مبارکه هغو کسانو پوري مربوطیږي؛ چې قصدي اراده یې د قرآن زده کړه وي. اسلامي خاورې ته راتلای شي، د هغه ځان، مال او پناه غوښتنه هم کولای شي؛ یو تعداد مفسرانو دغه آیت واضحت، مفهوم آیت شریف د سفیرنو اوبیګانګانو په مورد د هرمسلمان په مصلحت هم راځي بدون شک د سفیرانو او نمایندګانو استول اسلامي هیوادونو ترمنځ د سولې او روابطو جوړلو اوهمسیاګانوهیوادونو د غوښتنو پراساس دي.

---

-صدر،جواد.حقوق دیپلماتیک وکنسولی،ص۸۷. ۱

-توبه سورت. ۶آیت. ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن کثیررحمه الله د پورتنۍ آیت شریف په تفسیرکي وایی:((که چیري یوکس له دارلحرب څخه د ډیپلوماتیکو دندې ترسره کولو،سوداګري، د سولې ،د جګړې بندولو،جزیې ورکولویا نورو ورته کارونوپه موخه دارالسلام ته راشي اود مسلمانونو د واکمن یا د هغه له مرستیال څخه پناه وغواړي، نوترڅوچې په دارالسلام کې پاتي وي اوخپل هیواد ته ګرځیدلي نه هغه ته پناه ورکول کیږي۱.ابو رفع د قریشو په نمایندګي رسول الله علیه السلام ته راغي؛ اوهغه سره یی ولیدل اوحضرت رسول الله باندي یې ایمان راوړو،اوله رسول الله علیه السلام څخه غوښتنه وکړه؛ چې اجازه ورکړي هلته پاتي شي.رسول الله په ځواب کې ورته وفرمایل:((الی لااحس بالعهد ولا احسب البدد ولکن ارجع فانون فی نفسک الذی فی نفسک (لان فارجع))پر د دې اساس روایت چې اهل سنت نقل کړي دی. حضرت رسول الله په ابورفع باندې ټینګار وکړه، هیڅ وخت خپل عهد نه نقصوم. نږدی دی چې شخص خپل وطن ته بیرت لاړشي قریشوته، هغه څه چې غواړي زه یې ورکوم۲.

۲-قضایي مصونیت(خوندیتوب)

د قضایي خوندیتوب له مخي ډیپلوماتیکي استازي د قضایی اونظامي او دولتي اجراییوي کاروایو او اقداماتو څخه حوندی دي. په دي مانا چې ډیپلوماتیک مامورین د کوربه هیواد د اتباع یا نوروخارجي اتباعو په پرتله د قانون له اجرا څخه خارج دي.

مالي خوندیتوب

له مالي خوندیتوب څخه مطلب دا دي چې ډیپلوماتیکي استازي د بالمثل عمل له مخي د ټیکس اومالیاتو له ورکولو څخه مغاف وي. د دغو خوندیتوبونو په اړوند داسلام دریځ ته په لاندې اشاره کوو.

۱-د شخصي خوندیتوب امتیازات

اسلام د پناه ورکولو د اصل له مخي تائید کړي دی. د پناه ورکولوڅخه مطلب دا دی چې د سفیراوسیاسي استازي ځان، مال، اهل وعیال، دهغه څخه لاندي کسان، د هغه الات اولیکونه په نه پلټل کیږي. که چیرته سفیرجاسوسي وکړي اویاهم خپل هیوادته ځینومهمو معلوماتو د ترلاسه کولوهخه وکړي؛ نوبیابه تري هم دغه خوندیتوب نه اخیستل کیږي اود ځکه چې د فقهاوو دا پریکړه ده

-دابن کثیرتفسیر.۲ټوک،۳۳مخ،دالبابی الحلبی چاپ. ۱

-۰زخیلی،آثارالحرب فی المهاهلات فی الشریعت الاسلامیه والقانون الدوله العام،۴۰۵،ارمناری. ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې،له پناه اخیستونکي څخه به هغه وخت بیرته اخیستل کیږي، چې کله د هغه یوازاینې موخه جاسوسي وي. د ځانګړو سیاسي نمایندګیو په وسیله چې کله هم هیوادونه خپل سفارتي کارکوونکي ګماري، نو دواړو لوریو ته یو ډول د ګټو ترلاسه کولو زمینه برابره وي.

۲- په اسلام کې ډیپلوماتیکې مصؤنیتونو کړنې

دا ډول معاملې په دې موخه قبلوي، چې له دې چاروڅخه ترلاسه شوې ګټه په عمومي ډول د هغوجزیې زیانونو څخه زیاته وي، چې دا ډول کړنوڅخه اسلامي دولت ته رسیږي. همدا پریکړه د اصول فقهې پردې قاعدې هم ولاړه ده؛ چې وایي (یرتکب اخف الضررین لازالت اشدهما،والحکم یتبعالمصلحت الراجحت)یعنې د یوسترزیان د دفع کولو لپاره کوچني زیان زعمل کیږي اود یوي مسئلي حکم ترجیحي ښیګڼي تابع وي

۳-د قضایي خوندیتوب په اړوند اسلامي فقه

اوسنیو نړیوالوحقوقوکې یوڅه توپیرلري اوهغه دا چې اسلامي فقهاء پناه اخیستونکي شخص اوسیاسي استازي په اسلامي خاوره کې د قضایي اعمالو یا جزایمو په ارتکاب سره مواخذې وړګڼي اودا ځکه چې پناه اخیستونکي شخص د پناه غوښتنې اوپه دارالسلام کې اوسیدنې سره سره د اسلامي احکامو پابند ګرځي. د جزا ورکولوهدف یوازې د شته ناخوالې له منځه وړل دي اوپناه اخیستونکې که څه هم په موقتي ډول په اسلامي خاوره کې اوسیږي؛ نو باید له فساد کولوڅخه په کلکه ځان وژغوري. یومجرم انسان هیڅکله هم د ډیپلوماتیکي چارو د ترسره کولو وړتیا نه لري اونه هم د خوندیتوب ورکولو مستحق وي امام ابوحنیفه رحمت الله بیا د دې په اړونده څه نرمي څخه کاراخیستي اود حقوق الله اړونده جرایمولکه: زنا، غلااونورو کې پناه اخیستونکی د مواخذې اونیونې څخه مستثنی کړي دی۱.

**الف - جزائي مصؤنیت(خوندیتوب)**

جزائي مصونیت د قضایی مصونیت نتایج(پایلې)شمیرل کیږي.د نړیوالوتړنونوله اوعرف پراساس ډیپلوماتیکي استازي په هغه هیواد کي ماموریت لري د جزائي مصونیت څخه برخوردردي. همدارنګه د۳۱مادې د کنوانیسون ویانا کې هم راغلي ډیپلوماتیک ماموړپه منوونکي دولت کې د جزایي تعقیب له خوندیتوب څخه برخمن دي اود مدني او اداری دعواوو له خوندیتوب څخه هم برخمن دی. د جرم د

---

۱-اجریمت العقوبت،محمدابوزهره،۳۳۵مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارتکاب په صورت کې متبوع هیواد د جزایی تعقیب لاندي راځي. د اسلامي فقه له نظره د دې نطريې له جملې څخه ابوحنیفه (رح)سفیرانواوسیاسي استازو جزایي مصونیت نسبی منلی دی:یعنی که څوک په اسلامي هیواد کې په موقت ډول یا اسلامي احکام تابع ماموریت پرمخ بیائي.مستامن محسوب کیږی۱. د ابوحنیفه رحمت الله له نظره مستامن باندې لازمه ندي چې ټول اسلامي احکام اویوازې حق الناس لکه قذف یا مستلزم قصاص یا جزائي تعقیب لاندي نیول کیږي۲.په اوسني وخت کې د دولتونوترمنځ تعامل د ا دي چې یو ډیپلوماتیکي استازي د دعوی د څیړلولپاره د هغه د متبوع هیواد سره اړیکه نیول کیږي،همدارنگه هرهیواد د دې حق لري چې دا ډول استازي د نامطلوب عنصر په حیث اعلان کړي اوله اړوند هیواد څخه یې د بیرته ورغوښتنه وکړي، دوخیمو جرایمو د ارتکاب په صورت کې یې کوربه هیواد په زوره هم د خپلې خاورې څخه ایستلی شي اوکه چیري یوهیواد د خپلې سلامتیا لپاره لازمه وګڼې؛نومجرم شخص نیولی هم شي.

**ب - مدني او اداري مصونیت(خوندیتوب)**

ډیپلوماتیکي مامورین د ژوند په راونو چارو کي کله کله د خصوصي حقوقي اعمالو هم لاس پوری کوي. چې شونې ده مسولیت ورته متوجي شي. خو دلته د جزائي خوندیتوب یو لړ مخالفین هم لري. په دې اړوند اعمالو د ډیپلومات په ځان پوري مربوط اعمال بیلول اوتشخیصوي د هغوی په اند کومه ګټه نه لري؛ ځکه ټول هغه حقوقي اعمال چې یو ډیپلومات یې د خپلې رسمي دندې پر مهال ترسره کوي په حقیقت کې د خپل دولت لپاره ترسره کوي چې پردي مهال د اختلاف حقوقي لوري یو بهرنۍ دولت دي، نه خپله په شخصي توګه ډیپلومات چې خوندیتوب ته لاره اواره شي.د ویانا ژمنلیک ۳۱ماده یي په دې ډول بیانوي. ډیپلوماتیکي مامورپه منوونکي دولت کې د جزائي تعقیب له خوندیتوب څخه برخمن دی اود مدني او اداري دعواوو له خوندیتوب څخه هم برخمن دی،هغه غیرمنقول مالونه چې سفارت خانې پوري اړوند وي شامليږي.

**دوهم جز-د ډیپلوماتیکي مامورانو مصونیت په نړیوالوحقوقوکي**

د خوندیتوب قاعده، هم د ډیپلوماتیکي ماموریت ځای، خپله د ډیپلومات ځان، کوراوکورنۍ یي رانغاړي. یوشمیرلیکوال لومړی خوندیتوب(د ډیپلوماتیکي ماموریت د ځای خوندیتوب)د دویمي هغه(د

---

-باعمر،الدبلوماسیه بین السلامی والقانون الدولی،ص۱۸۹. ۱

-عودت التشریح الجنائی الاسامی مقارنابالقانون الوضمی عهد،ص ۲۸۰. ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيپلومات د ځان خونديتوب)تابع ګڼي، په دې ماناچې د خونديتوب د شتون فلسفه دا ده، چې د ډيپلومات ځانې امنيت تامين اوسي اوپه ښه توګه د دندې د ترسر کولو څپلواکي هم ولري. په حقيقت کې دغه خونديتوب شخص ته نه ورکول کيږي؛ خودا چې له تيري څخه د ډيپلومات کور،کورنۍ اوکارځای خوندي ونه ګڼل شي؛ نو يوازې د ډيپلومات په خونديتوب هغه څپلواک نشي ګڼل کيدای اونه هم ورسپارل شوې دنده په ښه توګه ترسره کولای شي. خونديتوبونه عمومي توګه په لاندي ډولونه لري، يوته يې د تعرض يا تيري په مقابل خونديتوب اوبل ته يې قضايي خونديتوب ويل کيږي.

۱-له تيري څخه خونديتوب

په بين المللي اصطلاح کې د دې خونديتوب مانا دا ده، چې شخص يا يوځای حرمت اوحقوق د نقض يا ماتيدو وړنه اوسي.د ځای حرمت مانا دا ده چې له اجازې پرته ورته څوک نشي ننوتلای اود شخص د حرمت مانا دا ده، چې د هغه آزادي اوحقوق مات(نقض)نشي۱؛خودغه حرمتونه يوازې د ډيپلومات په ځان او د سفارت په ځای پوري تړلي نه دي؛ بلکې په هر ډيموکراتيک رژيم(نظام)کې د اساسي قوانينو له مخې هرکس اوکورنۍ له دې حرمت څخه برخمن دي. له تيري څخه د سفارت خانې خونديتوب هيڅکله له رد سره نه دي مخ شوي اوښايي چې دغه خونديتوب به په پخوا وختونوکې له اوسمهاله څخه نورهم ډيرکلک په پام کې نيول کيدل. اوسنۍ اوپخواني ټول ليکوال د سفارت خانې د خونديتوب پر اړتيا اومطلقيت باندي سره يوه خوله دي. همدالامل دی چې ټولو ډيپلوماتيکي ژمنليکونو کې ځای شوي دی او د۱۹٦۱ز کال د ويانا ژمنليک هم ورڅخه په مطلق اوله کوم شرط پرته يادونه کړي ده۲.

**الف-د ډيپلوماتيکي مامورينوشخصي خونديتوب**

ډيپلوماتيکي مامورپه شخصي توګه له تيري(نيوني)څخه خوندي دی.د ويانا ژمنليک له **۲۹**مادې سر سم منوونکی دولت مکلف دی، چې د ډيپلوماتيکي مامور درناوی وکړي اوټول هغه لازم تدابير ونيسي، چې هغه،د هغه قيد پرازادي اوحيثيت د تيري مخه پري ونيول کيږي.سره له دې چې ياده شوې ماده له کوم قيد اوشرط پرته يوه کلی مفهوم افاده کوي، خودغه خونديتوب نامحدود کيدای نشي؛ د منوونکي دولت د امنيت مسله هم ترمنځ شته او امنيت ساتنه د هردولت له اساسي دندو څخه ده، په دي مانا چې د يوشخص له خونديتوب څخه مهم دی، په همدې لامل بايد د ډيپلوماتيکي مامور د

---

[1] -بیګدلی،ضیایی.حقوق بین الملل عمومی.ص۳۷۴.

۲ دويانا ژمنليک،۲۲ماده،۱۹۶۱ز کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونديتوب لپاره هم يو حد موجود وي. د خونديتوب دغه حد ته د ويانا کنوانسيون حقوقي کميسيون په خپلومطالعاتو اوڅيړنو کې پام کړي دی؛ خو په ژمنليک کې نه دی راغلای. د کميسيون د مذاکراتو له بررسي څخه صرف دومره ښکاري،چې کيدای شي په ځينو مواردو کې دغه خونديتوب محدود شي، لکه د هيواد له امنيت څخه دفاع په حالت کې(د جاسوسي په مقابل کې)اويا هم هغه مهال چې يو ډيپلوماتيک مامور د جنايت مرتکب شي.ښايې نه شونې وي،چې دغه خونديتوب ټول محدودونکې مواردو په گوته کړي شي؛ خوپه عمومي توگه بايده دوه صفتونه ولري، په دي خاطرچې د خونديتوب له اصل څخه په خپله خوښه يواړخيزه تفسيرنه وي شوي. دغه دوه صفتونه عبارت دی له دي څخه چې دهيواد دامنيت له مخي د يوشخص يوعمل ياکړنه څومره مهمه ده١.

دويم داچې فعل فوريت هم ولري اوکنه؟ دغسي يومورد چي ياد شوي دواړه صفتونه په کې ځای وي، مشهود جرم دي. په دغسي يوحالت کې د منوونکي دولت امنيتي مسوولين بايد د جرمي پيښي سيل کوونکي نه اوسي. په دی نوم چې ډيپلوماتيک مامور شخصي خونديتوب لري؛ بلکې ورته په کار دي چې د جرم مخه ونيسي. شونې ده تريوه حده پوري ډيپلومات ودروي، که څه هم دهويت پيژندنې يا له جرم څخه دمخنيوي په خاطروي، دا دهغوی د دندې غوښتنه ده. معموله خبره دا ده، دهرډول ستونزو دمخنيوي په خاطر،کله چې پوليسود يوډيپلومات هويت تشخيص کړ، چې ناقانون کړنه يې ترسره کړې ده، هغه خوشي کوي اوله موضوع څخه د بهرنيوچارو وزارت ته خبرورکوي. همدغه خبرشونی ده په هماغه مشخصه موضوع کې د وزارت لخواسفارت ته واستول شي اويا د جرم اهميت ته په کتني سره د ډيپلومات د ايستلولامل شي. په دي مادې کې د دوه ويشمتې مادې د دويم بند په څير د ډيبلوماتيکي ماموريتځي اوپه کې د اموالو د خونديتوب په اړه د منوونکي دولت مکلفيت هم تعين شوي دی؛ خو د دغو دواړومادو ترمنځ يوکلي توپيرهم شته دی. په دې مانا چې سفارتځي اوپه کې مالونه ثابت دي، دا د هروخت لپاره شونې ده چې امنيتي مسوولين يې د نوروله تيروڅخه وساتي. خوډيپلوماتيکي مامور يوڅوځنده موجود دی اوله يوه ځايه بل ته ځي او راځي، له يوښارنه بل ته هم سفرکوي. په همدې خاطرد منوونکي دولت امنيتي مسوولينو ته اسانه نه ده،چې د هغوی پرشخصيتونو اويا هم پرازاديو يې د تيري درجي تشخيص کړی.

---

١- جواد،صدر ډيپلوماتيکی او کونسلی حقوق مخ١٢٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خونديتوب تر ډيره خپله په ډيپلومات پوري اړه لري. دا ناشوني ده چې بايد هڅه وکړوچې خپل ځان د وګړوپه منځ کې بي حرمتي اوتيري ته پاتي نه کړي. د منوونکي دولت مسووليت د دولت په امکاناتواود پيښي اوځاى په غوښتنونو پوري اړه لري. دا ناشونې ده چې له منوونکي دولت څخه دې دا تمه وشي، چې په هرډيپلومات پسي دې يو امنيتي مسوول موظف کړي، چې امنيت يې وستاتي. دا کار يوازي له دې امله ناشونې نه دى چې هرهيواد کې د ډيپلوماتانو شمير ډير دى؛ بلکې له دې امله هم ناشونې دى چې ډيپلوماتان هم له دې سره موافقه نشي کولاي؛ځکه دا کار د هغوي له ازادى سره په ټکرکې راځي. په زياتوو مواردو کې د منوونکي دولت له مکلفيتونوڅخه ځيني يې خپله د ډيپلومات غاړې ته وليږي. په دې معنا چې نا ډاډمنو ځايونو ته سفير کولواو يا هم له شکمنو اشخاصو سره له ليدني کتنې څخه ځان وژغوري. د دې موضوع اهميت ډير هغه مهال ښکاره کيږي، کله چې د موقعيت اومقتضيانو په مناسيت د ډيپلوماتيکي مامور رفتار د ملي يا مذهبي احساساتو پاروونکي شي اويا هم د ځينو جرياناتو د رامنځته کيدو پرمهال لکه انقلابونو او لاريونونو کې خپله د پيښو منځ ته ورشي.پرته له دې چې په هغه پوري اړه ولري، په دغسي شرايطو کې نشوکولاى منوونکي دولت مسوول وګڼو.دغه ډول موارد ګڼ شمير سوابق هم لري،په ځانګړي ډول په هغو هيوادونو کې چې وګړي يې ژورمذهبي احساسات اوعقايد لري اوياهم په هغوهيوادونو کې چې وګړي يې تعصبات کې راګير وي،دغسې پيښو شونتيا تل ليدل کيږي.

**ب- د ډيپلوماتيکي مامورينو د کورنيو مصونيت(خونديتوب)**

د پخوانيو سنتونو اونويو حقوقو له مخې د ډيپلوماتيکي مامورينو په خونديتوب کې د هغوى کورنۍ هم شاملې دي. په پخواني عرف کې له کورنۍ څخه منظور ښځه، بچيان اوهغه ځوک ول، چې په يوه کورکې به يې ژوند کاوه؛ خو وروسته د ډيپلومات د کورنۍ مفهوم پراختيا وموندله، تردې ځينو دولتونو په يوکور کې د ژوند کولو شرط هم لازم نه ګاڼه؛ ځکه په عمل کې ډير داسې پيښيدل چې د يو ډيپلومات زوى دى دمنوونکي دولت په يوبل ښار کې زده کړو لپاره استوګن وي يا کله کله داسې هم کيږي، چې د ډيپلومات خپله ښځه دې له هغه سره په يو کور کې ونه اوسي[1].

---

[1] -دپورتنۍ ماخذ.مخ۱۲۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د بیلگې په توگه د مسافری کې).د ویانا ژمنلیک۳۷مې مادې د دغه ډول نظریاتو د ټکر د مخنیوي په موخه اود دې لپاره چې د هروخت شرایطو په پام کې نیول شوي وي،کورنۍ یې نه خپلوی په درجې پوري تړلي اونه یې هم په یوکور کې ژوند کولو پوري؛ بلکې یوازي یې په عبارت بسنه کړی ده، چې کولای شو پر(گډ ژوند کې غړیتوب) یې تعبیرکړو. له دې تعبیر سره کورنۍ مفهوم پراخیږي اوله هرډول قید اوشرط څخه وځي؛ خوحقوقي کمیسیون ددې لپاره چې په دې هکله یوه کړنلاره په لاس کې ولري، د ډیپلومات لپاره یې د کورنی غړیو لکه ښځې اوبچیانو شتون کافي وگاڼو؛ خو نورو خپلوانو لپاره یې په یو کورکې د اوسیدو شرط اینښي دی، لکه خور یا هم نور خپلوان.دا خپلوان به د لیدنې اومېلمستیا لپاره نه وي راغلي؛ بلکې ددې لپاره به د ډیپلومات په کور کې اوسیږي، چې د هغه ترکفایت لاندي دي اویا هم په ژوندکې ورسره مرسته کوي، چې له هغه سره ژوند کوي.

**ج-د ډیپلوماتیکي اسنادواو لیکنو مصونیت(خوندیتوب)**

د استوونکي دولت د رسمي اوغیر رسمي اسنادو اولیکونو خوندیتوب څخه ماموریت ته راځي یاهم له ماموریت څخه بیرون ته ځي، له ډیرو پخوا راهیسي شتون لري. همدغه ترټولو اړین خوندیتوب دی چې دولتونه یې د خپلو پټو اسنادو د ساتنې لپاره اوپه مجموع کې د هغو اقداماتو په اړه چې په خپلو اړیکو کې یې له نورو دولتونو سره ترسره کوی، لازمي گڼي. له دغه خوندیتوب څخه پرته، په بهرنیو هیوادونو کې له خپلو مامورینو سره د دولتونو اړیکو مختیږي، چې شونې ده دغه اختلال په بین المللي اړیکو کې د ډیرو زیان بخښوونکی پایلو لامل شي. پرهمدې بنسټ ډیپلوماتیکي مامورین له خپل دولت سره د لیکنو یا تلگرافي اړیکو پرمهاله له ځانگړیو رمزونو څخه گټه واخلي او په کارده چې د هغوی ټولې لیکنې اړیکي هر ډول پلټنې څخه خوندي اوسي. په پخوا وختونوکي، د دې لپاره چې دغه خوندیتوب تامین وي، لیکونه اسنادونه به یې د یوځانگړي لیک وړونکي په واسطه لیږدول،چې دغه لیک وړونکي به هم د یوډیپلومات په څیر ترهغې د سفارت پستونه(لیکونه اواسناد)به ورسره ول، له هرډول څارنې اونیونې څخه به خوندي و.دغه پخوانې دود له منځه نه دی تلای او اوس هم ځینې دولتونه له خپلو سفارتونو سره د اړیکو پرمهال له ځانگړو لیک وړونکیوڅخه گټه اخلي، چې دغه ډول لیک وړونکي د(ډیپلوماتیکي وړونکي په نوم یادیږي).چې د۱۹٦۱ز کال دویانا ژمنلیک ۲۷مې مادې د احکامو له مخې منوونکی دولت مکلف دی، چې د ډیپلوماتیکي ماموریت نه مانع کیدونکي یو ازاد ارتباط تامین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ارتباط معمولا د سفارت اواستوونکي دولت د بهرنيو چارو وزارت ترمنځ اوسي، خو شونې ده چې هرسفارت دې په نورو دولتونو کې د خپل دولت له سفارتونو سره هم اړيکي وساتي. نن ورځ د ډيپلوماتيکي اړيکو په پراختيا سره، په ځانګړې توګه چې د مخصوصي يا ځانګړې ډيپلوماسۍ په شتون کې دغه سکالو د ډيرو زيات اهميت لرونکي ده.دا نشو منلای چې د يو دولت د بهرنيوچارو وزيردې له خپل هيواد څخه بيرون اوسي، خو په نورو بيلابيلو دولتونو کې دې يې خپل دولت له سفارتونو سره مراسلات(ليکونه)له خونديتوب څخه برخمن نه وي.په حقيقت کي داسي هيڅ دليل شتون نه لري، چې له خپل  دولت سره د سفارتونو د ليکونوتبادله، د يوهيواد دسفارتونو ترمنځ له هماغې ورته کړنې سره، د خونديتوب د وجودي فلسفې له حيثه توپير ولري. سفارت کولای شي، داړيکو له هرې وسلې څخه کار واخلي. نن ورځ ځينې دولتونه له ډيپلوماتيکي ليک وړونکي اوختا له ځانګړو الوتکو څخه ګټه اخلي. د دې لپاره چې سفارت ډيپلوماتيکي پست(ليکونه اواسناد)په پوره ډاډ اوله هرډول پلټنې څخه پرته خپل ځای ته ورسيږي، نو د ناچاري له مخي دغه پست انتقالوونکی هم له هرډول څارنې اونيونې څخه خوندي وی.

همدا لامل دی چې له پخوانې دود سره سم اوهم د۱۹٦۱ز کال د ويانا ژمنليک له محي ډيپلوماتيکي ليک وړونکی، په ټولوهغو هيوادونو کې چې دی ترې تيرېږي اوله استوونکي دولت سره ښيي اړيکي ولري، له دې خونديتوب څخه برخمن دی. داچې د ډيپلوماتيکي ليک وړونکي خونديتوب له دې امله دی، چې ليکونه خپل ځای ته ورسوي، نوکولای شو چې له دې څخه دغه مخالف مفهوم هم واخلو، چې کله دغه ډول ليک وړونکي ليکونه ترځايه ورسوي، نوخونديتوب يی هم له منځه ځي؛ خو دغه استنباط سم نه دی؛ ځکه شونې ده چې د ډيپلوماتيکي ليک وړونکي ته له ليکونو پرته يولړ شفاهي پيغامونه هم ورسپارل شوي وي يا دا چې په هرحالت کې دهغه خونديتوب شونې دی، په راتلونکې کې دهغه د دغه ډول ماموريت ترسره کولوضمانت وکړي.همدا لامل دی چې د ډيپلوماتيکي ليک وړونکي خونديتوب څخه بيل دی، چې هغه ترځايه رسوي اوپه همدي خاطرډيپلوماتيکې ليک وړونکی د يو ډول ځانګړی حکم لرونکي دی، چې دغه حکم د ټولو هيوادونو لپاره رسما پيژندل شوي دی،چې له  همدې امله د ټولو دوستو هيوادونو د مامورينو له تيري څخه خوندي دی، پرته له دې چې د ډيپلوماتيکې ليکونوکڅوړه ورسره ده اوکنه، يوازې،همدومره بسنه کوي، چې په حکم کې يې ماموريت مشخص شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. د ډيپلوماتيکي ليکونو خونديتوب دا مانا لري، چې د ډول ليکونه د منوونکي دولت اونورو هغه دولتونه چې ماموريت پکې پلټنې او ضبطونې څخه خوندی دي،چې استوونکي دولت سره ښيې او دوستانه اړيکې لري١.

چې ډيپلوماتيکي ليک وړونکی له ليکونو اوشيانو څخه پرته نور شيان له ځان سره ولري؛ نو په کار دا چې د سفارت ليکونه د ظاهري بڼې له مخي بايد يوه ځانګړي بڼه اومشخصات ولري، چې په آسانه سره وپيژندل شي.د ډيپلوماتيکې ليکونو دغه ډول ليږنې بڼه، چې نږدې په ټولو هيوادونو کې يو ډول وي(ډيپلوماتيکې ليکونه)،دا پاکټ ياکڅوړه په واسطه مشخصيږي، چې له پاسه پرې کښلي وي(ډيپلوماتيکي ليکونه)دا پاکټ ياکڅوړه د بهرنيو چارو وزارت لخوا ياهم دسفارت لخوا مهراوبنديږي. له دې پرته ليک وړونکی ته يوډول ځانګړي بل ډول ليک هم ورکول کيږي،چې هماغه ځانګړو ځای ته د دغو ډيپلوماتيکې ليکونو درسولوپه هکله په کې ليکل شوي وي.ډير هيوادونه،په دي خاطر چې د نړۍ نور هيوادونو ته د ډيپلوماتيکي ليک وړونکی ډير زيات لګښت لري، د ډيپلوماتيکي ليکونو ليږلو لپاره دعامو مسافرينو الوتکوڅخه ګټه اخلي. په دغسي موادرو کې د ليکونو بکس د الوتکې پيلوت يا بل کس ته سپارل کيږي.

په دې ډول دالوتکو پيلوتان چې کله د څو سفارتونو د ډيپلوماتيکې ليکونه انتقالوي، نود ډيپلوماتيکې ليکونو وړونکي حکم لري. چې له انډ مهال خونديتوب څخه برخمن وي؛ خوبياهم د دوي خونديتوب د ډيبلوماتيکې ليک وړونکو سره توپير لري، هغه دا چې پيلوت شخصا له نورخونديتوب څخه بر خمن نه دي، پرته له هغه حالت چې ليکونه يې ترهغه ځايه پوري نه وي رسولې اوپه اړه يې داسي اقدامات ترسره شي، چې د ليکونو رسولو مانع شي.(د ويانا ژمنليک)،ډپيلوتان بايد ټول هغه د ډيپلوماتيکي ليکونه، چې ورسپارل شوي دي په هوايي ډګر کې د هغه استاري ته وسپاري، چې ورته پيژند ل شوي دي، چې له همدې مهاله يي نسبي ډيپلوماتيکې خونديتوب هم له منځه ځي. معمولا دغه سپارل نه د هوايي شرکتونو په دفترونو کې هم ترسره کيږي.د ډيپلوماتيکي پکونه يا کڅوړې خونديتوب مطلق دي، ناشونې ده چې پلټنې يا ضبطونې لپاره پرانستل شي. په اوسنې وخت کې دولتونو سره داسي وسيله

---

١ -د پورتنی ماخذ١٣٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته، چې کولای شي ډيپلوماتيکي ليکونه د شديد گومان پرمهال تشخيص کړي، پرته له دې چې پرانستل شي، د هغه څخه خبر شي څه شي پکي موجود دي.

پرته له دې چې د اسنادو ليکنه معلوم کړي. له دغې وسيلې څخه ګټه پدې شرط کيږي، د منوونکي دولت مقامات وکولای شي. ډيپلوماتيکي ليوال تشخيص کړي ديپلومات يا ډيپلومات په نشتون کې کولاي وپلټي.د اړيکو يو بله وسيله چې سفارتونه ترې گټه اخيستلای شي،استوونکي دستگاگانې دي،شونې ده له دغه د ستگاگاوو گټه اخلي؛ دولت په اجازي پوري اړه لري.

داچي د سفارتخاني اود سفارت ليکونو په اړه وغږيدو او وموويل، خونديتوب ځکه لري،چې په يو بهرنې دولت په اړوند ده او د دې لپاره چې ډيپلوماتيک ماموريت د ترسرکيدو امکانات تامين وي؛ نو په دې ځاي ډيپلوماتيکي ماموريت نقيله وسايطو خونديتوب ته هم اشاره کيږي. د ډيپلوماتيکي ماموريت نقيله وسيله ،په دې نوم چې يوبهرنې هيواد پوري اړوند مال دي، له ضبط اونيونې څخه خوندي دي؛خو لکه څرنگه چي شونې ده د سفارتخانه هم منوونکي دولت امنيت مخالفينو دعملياتو ځاى وگرځي، دغه ډول شونې ده چې نقيله وسيله هم د ځينو وسايلو د ليږدونې، ياهم د سلاحگانو اونشه يې توکو انتقلولواويا هم د اشخاصوته فرار ورکولوپه شک اوگومان ترڅارني لاندې راشي. د سفارتخانې اونقيلې د څارنې ترمنځ توپير دا دى،چې سفارتخانه ثابت دى اوشونې ده چې هميشه د کوربه دولت ترڅارنې لاندې ونيول شي؛ نقيله وسايل بيا گرځنده دي د کوربه دولت د څارگرو ترڅارنې څخه وځي. د ويانا‌ژمنليک د نقيله وسيلې د پلټنې په اړه څه نه دى. ويلې خوځينې حقوق پوهان د دغه ژمنليک د٣٦مې مادې دوهمه تبصره ډيپلوماتيکي موټرو لپاره د اجراء وړبولي.

٢-قضايي مصونيت(خونديتوب)

د خونديتوب بل ډول هم قضائي خونديتوب دى. له دې خونديتوب څخه موخه دا ده چې ډيپلوماتيکي مامورين د نورو د بهرنيو اتباعو په خلاف د منوونکي هيواد قانون د اجراء له ساحې څخه بيرون پاتې کيږي. دځينو په نظر دغه خونديتوب داسی تعبيريږي؛ چې قانون مامورين په ځان کې نه رانغاړي اوياهم دا چې محکمه د مامورينو قضيو ته د رسيدگۍ صلاحيت نه لري؛ خودغه تعبير درست نه دي. د قانون نه شموليت په دې مانا نه دي، چې د پام وړاشخاص قانون ته ژمن نه وي اوياهم د ډيپلوماتانوقضايي يا شخصي خونديتوب په کورنيو قوانينو کې قيد شوي نه وي. د محکمې د صلاحيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه درلودلو خبره هم سمه نه ده، ځکه د هرهیواد محکمې هغو مسایلو ته رسیدکۍ صلاحیت لري چې د هغه هیواد په عمومي نظم په اړوند وي۱.

له تعقیب څخه ډیپلوماتان خوندیتوب په دې مانا دي، چې محکمه د هغه په اړه خپل صلاحیت نه کاروي، خوکله چې ډیپلومات صفت د هغه څخه لري شي؛ نو ښایې محکمه هم خپل صلاحیت وکاروي چې هغه تعقیب کړې. د صلاحیت نه درلودل هغه مهال سم دي،چې کله د قضیي سکالو د منوونکي هیواد پوري اړوند نه وي.اودغه صلاحیت نه درلودل هغه وخت هم پاتي کیږي کله چي ډیپلومات صفت له لاسه ورکړي. دبیلگې په توگه یوډیپلوماتیکي غړی د خپل هیواد د اداري مقرارتو د نه اجرا کولو پرسرد ماموریت له رئیس څخه شکایت کوي،د قبلوونکي دولت محکمه دې قضیې ته رسیدگۍ صلاحیت نه درلودل دایمي دي، ځکه دغه شکایت سکالو د یوبل هیواد په عمومي نظم پوري اړه لري.
قضایي خوندیتوب اصولو له مخي د ډیپلوماتیکي مامورینو لپاره دی، نه د سفارتخي لپاره په دې اړه څرگند شویو نظریاتو کې هیڅ یونظرهم د سفارتخي خوندیتوب ته اشاره نه ده کړې اونه یې هم ورته په ژمنلیکونوکې کوم اشاره کړې،چې د دې علت روښانه ده. د یوسفارتځي کارونه هغه څه دي چې د سفارت په استوونکي هیواد ته منسوب وي اوهیڅ دولت د بل دولت د قوانینو تابع ندي، چې سفارتخي خوندیتوب ته دې کوم موارد پیداشي. پرهمدې بنسټ که سفارتځي په رسمي توگه یو داسې عمل ترسره کړي چې د منوونکي دولت له عمومي نظم څخه بیرون وي؛ نودا چې یورسمي عمل دي،د دولتونو ترمنځ اختلاف دې لامل گرځي؛خومنوونکي دولت ورته د رسیدگۍ صلاحیت نه لري. لکه که د سفارتځي د محلي کارکوونکیو له ډلې څخه یو کارکوونکې لرې کړي،د دغه کارکوونکي شکایت د منوونکې هیواد په محکمه کې د اجرا وړنه دي،که څه هم متبوع هیواد یې دي؛ځکه چې سفارت د بهرنې دولت ارکان برخه ده اوطبعا د بل هیواد د محکمې په صلاحیت کې نشي راتلای.د سفارت کارځي یوازې د خپل هیواد چارو اداره کول نه دي؛ بلکې ځینې مهال داسي نوراعمال هم ترسره کوي، چې د منوونکې هیواد په خصوصي حقوقو اوداخلي نظم پوري اړوند وي.

د بیلگې په توگه په سفارت کې ځان لپاره کور اجاره کوي اویاهم لوازم پیري، یاهم د ودانۍ قرارداد کوي یا موټرپیري یاهم په ترافیکي پیښه کې بل چاته زیان اړوي؛ د دې سکالو موارد ډیر دي. دغه ټول

---

۱ - د پورتنۍ ماخذ.مخ ۱۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوقي اعمال د منوونكي هيواد د قوانينود تطبيق په ساحه كي شامل دي. كه په دغسي مواردو كې محكمه ونشوكولاي قوانين اجرا كړي؛ نو دغه يوشمير اتباعو حقوق به تحلف شي، چې له سفارت سره په معاملې كې رابنكېل دي اوكه قوانين اجراء كوي؛ نود مامورينو قضايى خونديتوب مسله رامنځته كيږي. د سفارتونو معاملاتي كړنې ډيرې دي اوله دهغه څخه ځان ژوغورنه هم ناشونې ده، همدالامل دى.

چې له پخوا څخه په دې اړه ځينې ستونزي شته چې دعسي قضيي څه ډول تعقيب شي، ترڅود منونكي هيواد هغو اتباعوته خپل حقوق ورسيږي،چې له سفارت سره په معاملې كې رابنكېل دي.همدا لامل دى چې لوترپاخت ١د سفارت لپاره د خصوصي حقوقوپه مسايلو كې د قضايي خونديتوب او مدنې مسوليت د نه شتون گروهمن نه دى.د هغه دليل دا دى چې كه خپله قبلوونكي دولت دورته حقوقي اعمالوپه اړه په خپل هيواد قصايي خونديتوب نه لري نوپه هماغو موردو كې د استونكي دولت سفارت لپاره قضايې خونديتوب ته قايلېدل سهي نه دى؛خوبيا هم په ټولو هيوادونو كې معموله رويه يو ډول نه ده،دا چې په دې اړه يوه كلي بين المللي قاعده شتون نه لري؛ نوهمدا لامل دى چې هردولت له پلو بيلابيلو قواعدو څخه متابعت كوي

.د محكمو د احكامو داجرء په اړه خونديتوب ترټولو مهم دى.د يوسفارت په اړه دراېې صادرول نه شونې نه دى. همدغه حكم اجراء ده، چې په عملي كولو كې يې، سفارت ته داجراء كوونكي مامورپه ورننوتلو سره سفارت خونديتوب ماتيږي. همدارنگه ورسره د ضبط اوتوقيف په مقابل كې د سفارت د مالونوخونديتوب هم ماتوي. په حقيقت كې كه محكمې ته د تعقيب اورسيدگۍ شونتيا موجوده وي،حو د حكم د اجرء لپاره يې هيڅ د اجرءا وسيله نه لري.

په عين حال كې د هغو زيانونو د جبران لپاره چې سفارت له عادى سوداگريزو چارو له امله يوچاته رسيدلي وي،لاره يې بيخي بنده هم نه ده. شونې ده چې زيانمن شخص د خپل متبوع هيواد لخوا اقدام وكړي. (غالبا شونې ده چې د ځينو سياسى ملاخظاتو له امله د دوه هيوادونو ترمنځ د موضوع دومره جدي نه وى) همدارنگه شونې ده چې په ترون كې د محكمې په اړه هم د مخه يادونه شوي وي

[1] -rsh lauter pacht(دبهرنيو دولتونو دقضايى خونديتوب مسئله١٩٥١

(c) ketabton.com: The Digital Library

اویاهم د اجرءا په اړه د سفارت ملزمول د حل یوه لاره اوسي.دغه وروستي طریقه د سفارتونو اودولتونولپاره معمولترینه رویه ده.

الف-د احکاموله اجراء اوقضايي تعقیب څخه د ډیپلوماتیکي غړوخوندیتوب:هغه اعمال چې یوډیپلومات یې د خپلې دندې په توګه ترسره کوي یا به سم د خپل متبوع دولت په حقوقي نظام پوري اړوند وي، په دغو دواړو مواردو کې ځایې محکمې د رسیدګۍ صلاحیت نه لري، خود دغه ډول اعمالو ترڅنګ ډیپلوماتیکې مامور د خپل ځان لپاره ځینې نور کارونه هم ترسره کوي، چې د هریو لپاره یې باید د خوندیتوب حدود اوله تعقیب اود احکامو اجراء ته پاملرنه وکړو.

ب-جزايي خوندیتوب

د یوډیپلومات خوندیتوب د هغو اعمالوپه اړه چې د قانون له مخې د اجراء اوتعقیب وړ وي، مطلق دی اوله پولیسواوقضايي مقاماتوڅخه هیڅ یوهم نشي کولای چې هغه ګرفتار کړې اویې هم تعقیب کړې. لکه څرنګه چې د مخه وویل شول،د۱۹٦۱ژمنلیک په دې اړه صراحت لري، قضایې رویه اود حقوقپوه ګروهې دې اړه مختلفې نظرلري. سره له دې چې د یو جرم اوجنایت له امله، که یو ډیپلومات مرتکب شي، نو د هغه د تعقیب نشونتیا تراوس هم هماغه پاتې ده۱، خو د دغه پرخلاف کول هم د ډیپلومات د دندې په ترسره کولو کې ازادۍ له اصل سره په ټکر کې راځي. همدا لامل دي چې همدغه خوندیتوب دډیبلومات لخوا هرډول سرغړونې دارتکاب له تعقیب، دپولیسولخوا نیونې اوجلبونې(په هغه صورت کې چې د ډیپلومات هویت مشخص شوي وي)د جریمه کونې یاهم اخطار ورکونې ټولو حالتوته شامليږي. دغسي خالات کې پولیسي یا قضايي مقامات کولای شي موضوع د بهرنیو چارو وزارت ته ورسوي، چې د هغې له لارې سفیرته اعلان شي.البته له دې غوښتنې له تکرارڅخه باید مخنیوي وشي اویاهم که جرم شدید اوسي، نوترې غواړي چې ډیپلومات خپل هیواد ته واستوي.

ج-مدني خوندیتوب

ډیپلوماتیکي مامورین د ژوند په روانو چاروکې کله کله د خصوصي حقوقو پراعمال هم لاس پوري کوي، چې شونې ده مسوولیت ورته متوجه کړي، خو دلته د جرایې خوندیتوب پرخلاف چې ټول یې په اړه یو نظرلري، مدني خوندیتوب یو لړمخالفین هم لري. د بیلګې په توګه ایټالیه دې ته قایله ده چې د

---

۱ -صدر، جواد،ډیپلوماتیکی او کونسلی حقوق.ژباړه:اختیار،هجرات الله.ګودر خپرندویه سلام خپرندویه ټولنه،جلال آباد۱۳۹۵مخ۱۳۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيپلومات اعمال بايد تشخيص شي چې کوم يې د خپلې دندې اوماموريت د اجرءا لپاره کړي دي او کوم يې په شخصي توگه د ځان لپاره؟ له ې تشخص څخه وروسته لومړي قضايي خونديتوب لري اودويم ډول يې نه لري. خوپه فرانسي اوسويس کې قضايي رويې دغه تشخيص ستونزمن اونالازم گڼي اوپه دې اړه د کلي خونديتوب قايل دي.په دندې پوري اړونده اعمالو اوډيپلومات په ځان پوري د مربوطو اعمالو بيلول اوتشخيصول د هغوی په اند کومه گټه نه لري. ځکه ټول هغه حقوقي اعمال چې يو ډيپلومات يې د خپلې رسمي دندې په توگه ترسره کوي د خپل دولت لپاره يې ترسره کوي چې په چې په دي مهال د اختلاف حقوقي لوری يوبهرنې دولت دي، نه خپله په شخصي توگه ډيپلومات، چې نه خونديتوب ته دې لاره هواره شي. همدا لامل دي چې معمولې رويې په عمل کې دغه بيلونې يوې خواته کړې دي اوخونديتوب يې د ډيپلومات ټولوحقوقي اعمالو ته شامل کړی دی۱.

## دوهم مطلب-د ډيپلوماتيکي اماکنو(ځايونو)مصونيتونوڅيړل په اسلام اونړيوالوحقوقوکی

اسلامي سياسي استازو اوسفيرانو ته بيلابيلواړخونو نه د خونديتوب،خوندي ځای ورکولو،مناسب احترام کولواو پاللومسوليت پرخپله غاړه اخيستي. چې خپلي دندې په ښه توگه ترسره کړې اود نړۍ سوکالۍ اوارامې لامل وگرځي. په نړيوالو حقوقوکې ډيپلوماتيکي ځايونه لکه سفارتونه، نمايندگي اونورمربوطه دفاترد مصونيت درلودنکي دي اومنوونکي هيواد مامورين د ماموريت د اجازي پرته د دې حق نه لري چې دغو ځايونو ته داخل شي.

### لومړی جز-ډيپلوماتيکې ځايونه (اماکن) خونديتوب

په اسلام کې ډيپلوماتيکي ځايونه، سفارتونه يا د سفيرانو د اوسيدوځايونه هم له خونديتوب څخه برخمن دي،اسلام د بل هردين اويا حقوقي نظام په پرتله د ډيپلوماتيکو استازو د خونديتوب اوهغوي ته استثنايي امتيازاتو د ورکولو موضوع ته ډير اهميت ورکړي دی چې ترڅو دغه استازی په اسلامي هيوادونو کې خپلې دندې په ښه صورت ترسره کړې. د کوربه هيواد دولتي مامورين نشي کولای د ډيپلوماتيکي ځايونو يا سفارتخونو ته بې جازې داخل شي۱۹۶۱کنوانسيون۲۲مې مادې پراساس د ماموريت ټول ځايونه خونديتوب لري اومنوونکي دولت مامورين د ماموريت د رئيس له اجازې پرته

---

۱-د پورتنۍ ماخذ مخ۱۳۴.-

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورننوتلو حق نه لري. په اسلام کې ډيپلوماتيکي ځايونونه خونديتوب نه منظورمکه اومدينه نه دي. ډيپلوماتيکي مامورين په اسلام کې موقتې وه، ځکه فقهاوو متعرض متقدم بحث ندي پري کړې، ځکه چې اساسي ډيپلوماتيکي ځايونه موجود نه وه۱، د استازو استولو لپاره د دارالضيافه په نوم يا په مسجدونواو اصحابو په کورونو کي منل کيدل. ډيپلوماتيکي مامورينوځايونومصونيت په اسلام کي وجود لري؛ پردې اساس چې په صريحه ډول د قرآن اوسنتو مخلاف نه وي؛ اسلامي دولت ډيپلوماتيکي ځايونه د ځان په ګټه بولي. لکه څرنګه چې د سورت نور په۲۷او۲۸آيتونوکې ذکرشوي. ټولوهغه ځايونه ساختمانونه په اسلام کې مصونيت لري؛ په هغه کې مسلمانان يا غيرمسلمان استوګنځای وي. ياهغه د هيواد په ارګانونو يا سازمانونو پوري اړوند يا د بيګانه هيواد پوري وي. سياسي مامورين هم مصونيت لري، لکه څرنګه چې رسول الله عيله السلام د مکې په فتخ کې فرمايلي دي:(هرڅوک چې د ابوسفيان کورته داخل شي په امان کې دي. په اسلام کې د دوو موخو لپاره مصونيت وجود نه لري.

۱-هغه مجرم ته پناه ورکول چې د اسلام پرضد فعاليت کوي.

۲-د ډيپلوماتيکي ځايونونه ناوړه استفاده کول،د ملي امنيت تهديدول يا دنورو مخلافو کړنو عمل کول.۲

**دوهم جز- ډيپلوماتيکي ماموريت ځايونوخونديتوب**

په نړيوالوحقوقوله اړخه کولای شو د دې خونديتوب ته دوه اړخونه ورکړو.يو اړخ يې هغه دی چې منوونکی دولت ژمنوي چې خپل مامورين، پر سفارتځي اود سفيرپرکور له هرډول تيري څخه منعه کړي اوبل اړخ يې دادی، چې منوونکي دولت ژمتوي چې خپله ډيپلومات،د اوسيدو او کارځايونه يې له حقوقي اومادي له نظره د عادي وګړو له تيري څخه وساتي۳.د ډيپلومات د کار او اوسيدوځايونه خوندي دي، په دې مانا چې ځايي مامورين په هيڅ نوم نسي کولای ورننوځي، حتا د يوې قانونې دندې ترسره کولولپاره هم. مګرهغه مهال چې سفارتځي ته د ننوتلولپاره د ماموريت له رئيس څخه صريحه اجازه واخلي او استوګنځي ته ننوتلولپاره خپله له ډيپلومات څخه.دا خونديتوب کومې ځانګړوي توجيه ته اړتيا نه لري؛ ځکه له دې څخه د نشوتصور کولای چې ډيپلومات په خپل دفترکې، چې سفارت د کار اوسياسي اسنادو دساتلو ځاي دي، څه ډول مهمې دندې پر غاړه لري، ترسره کولای شي.البته همدغه

---

-پورامينی،محمد حسين.اسلام وحقوق ديپلوماتيک.تهران سازمان مطالعه وتدوين کتب علوم انسانی دانشګاه علوم انسانی اصولی ۱۳۹۳ص۱۵۰. [1]

۲-ابوالوفاء ،قانون الدبلوماسی الاسلامی،ص۳۴۹-۳۵۳.غنمی،قانون الاسلام فی الاسلام،ص۴۲۲.مصطی لاريه

-کاير،معاصر ډيپلوماتيکی حقوق،جينوا،۱۴۶زکال. [3]

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاعده، چې هيڅكله په کې استثناء نه ده رامنځته شوي. سبب شوه چې حقوقې توجبيح يې پر(سفارتځي د كوربه دولت له قلمرو څخه بيرون ګڼلوفرضيې )وکړل شي۱.

خو نه يوازې دا چې دغه فرضيه په بيلا بيلوشرايطو اومواردوکې، چې د مخه يادشول، د اسباد وړنه ده، بلکې له ځينونورو اړخونو سره مطابقت نه لري، لکه د استونکي دولت په ملکيت کې ځينې نه راتلونکي موارد(د سفارت لپاره اجاره شوي ځايونه)،همدارنګه ډيپلوماتانو کورونوخونديتوب پراختيا، چې کورونه هم دهغوی ملکيت کې نه دی، هم يو له يادوشوي اصل سره د نه مطابقت يوبل اړخ کيدای شي. بين المللي عرف اود١٩٦١ز کال د وياناژمنليک٢٢مي مادې د ډيپلوماتيکي مامورينود کارځای ته، د ماموريت د رئيس د اجازي پرته، د کوربه دولت مامورينو له ننوتلوڅخه د خونديتوب يادونه له کوم قيد اوشرط پرته کړې. په دې ترتيب د قواعدو وضعه کول هم ښکاروي، چې هرومره دغه دواړه ځايونه د يوډول خونديتوب لرونکې اوسي؛ خوبياهم سره تفاوت لري.کنه ولې په دووبيلا بيلو مادوکې يادېدل. تفاوت يې دا ده، چې د ډيپلومات د کارځاي اورسمي دفترد ډيپلومات په استوونکي دولت پوري اړه لري.

په دې مانا چې ده هغه ځای دې چې له منوونکي دولت څخه لاسته راغلي اسناد په کې ساتل کيږي اوپه کې ډيپلومات خپله رسمي دنده ترسره کوي. په داسې حال کې چې د ډيپلومات د کورخونديتوب په استونکي دولت پوري دومره اړه نه لري اودا خونديتوب يوازې د ډيپلومات له ځاني خونديتوب څخه رامنځته شوي، له دې پرته بيا د ډيپلومات د ځاني خونديتوب فلسفه هم خپل مفهوم له لاسه ورکوي. لکه څرنګه چې سفارتځي هروخت په استوونکې دولت په اړونده نه وي، چې د کوربه دولت له بيرون والي فرضيه د مخه توجيه کړای شوي، همداغه دليل ده چې سفارتځي اجازه اخيستل ياپه خپل ملکت کې راوستل هم پرخونديتوب اغيزه نه لري. ترهغه مهال چې سفارت په يوې ودانۍ کي وي،هغه ودانۍ هم خونديتوب لري.

حتاداهم لازمه نه ده، چې د سفارت ټولې چارې په يوې ودانې کې ترسره شي.بلکې په څو ودانيواوځايونوکې هم ترسره کيږي؛ ټولې يې له خونديتوب څخه برخمن دي. د ويانا ژمنليک په٢٢مادې په عبارت کي(د ماموريت ځايونه)د جمعې په بڼه راغلي دي. د مخه اشاره وشوه، چې د

---

۱ -نعيمی ګل احمد.ډيپلوماسی او د مذاکرې فن .مومند خپرندويه ټولنه ننګرهار۱۳۹۴مخ۱۴۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینوخوندیتوبونو په اړه د دولتونو ترمنځ د نطریوالې شتون نه درلود اوپرهمدې سبب و،چې یوبشپړ ژمنلیک په اړه،چې د خوندیتوب ټول اړخونه په کې شامل وي، د برابرولو پرمهال هم شتون درلود.دا مهال ځینونظر درلود چې د سفارځي خوندیتوب باید مطلق اوله قید اوشرط پرته وي، خوځینو نوروبیاورته په ځینو مواردو کې د ځینو رسمي مامورینو د ننوتلوشونتیا اړینه ګڼله. باید په پام کې ولرو، چې ځینې مهال شونې ده له دغه خوندیتوب څخه د منوونکي هیواد دښمنانوته پناه ورکولو په موخه ناوړه ګټه پورته شي اویا هم د سفیر د خبرتیا پرته ،له سفارتځې څخه د منوونکې هیواد پرضد د توطیو کاواخیستل شي یاهم شونې ده، د منوونکي هیواد د سیاسي اشخاصو پرضد د جنایتونو د پیلیزوبرابرولو لپاره وکارول شي، دا هم شونې ده .

چې په سفارتځي کې داسې پیښه رامنځته شي ،چې که مامورین یې مخنیوي ونه کړي. نود سفارت ځاي سره د کوربه هیواد اتباعو او سیدونکو ته ځانې اومالې دواړه په خطر کې ولویږي (لکه اور لګیدنه اوداسی نور...)دا سمه ده چې په دغسې پیښو کې د ماموریت رئیس یا یې ځایناستی خپله د کوربه دولت د مامورینو مرسته وغواړي، خود دې پرخلاف فرض کیدل هم ناشونې نه دي اوپه کار دي چې د دغسې حالاتو اوتردي ډیرواستثنایی حالاتو لپاره هم قواعد شتون ولري. له دې پرته په هر سفارت کې د کوربه دولت یوشمیراتباعو څوکې وال، چلوونکي ،خدمتګارانو اودفتري خدمتګارانو په نومونو شتون لري، چې شوني ده له دغو سره په اختلافي خواکې راشي او په اړه یې لازمې شي چې رسمي قضایې او دولتي پاڼې هغوی ته د دولتي مامورینو په وسیله ابلاغ شي او ورته وښودل شي١.له هغو یادونظري اختلافاتوڅخه د ځان ژوغورنې لپاره،چې شونې ده د ژمنلیک برابروونکي کمیسیون د کارونو درولو لامل شي، غوره ګڼل شوه چې د کوربه دولت له قوانینو څخه د متابقت اصل اود کوربه په کورنیوچارو کې د ډیپلوماتیکي مامورینو د نه لاس وهنې اصل، دواړه منل شي اویوازې دي د همدغودود اصلونو پراعلان بسنه وشي.

په همدغې خاطرد ژمنلیک ۴۱مې مادې کې راغلل چې د ډیپلوماتیکي مامورینوځایونه  د ټولو هغو کړنولپاره چې یونه یوډول د ډیپلوماتیکې دندي  سره په معایرت کې وي، (هغه چې په دریمې ماده کې تریحه شول یا د بین المللي حقوقو قواعدو برخه وي.)باید ګټه ترې اخیستل شي. له ډیپلوماتیکي دندو

---

-په دې مورد کې معمول داده چې پاڼې دبهرنیو چارو وزارت له لارې سفارت ته لیږل کیږي اوابلاغیږي. ١

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره په معایرت کړنو په اړه د ژمنلیک نه تصریح ته په پام سره یوشمیرپوهانو د ډول پایلي اخیستي ده، چې هرکله دولت کافې دلیل په لاس کې ولري، چې له سفارتخې څخه د کوربه دولت د امنیت پرصد د توطیوبرابرولو یا له قانون څخه خلاف د بل هر اقدام لپاره گټه کیږي یا هم داسې پیښو رامنځ ته کیږدو په حال کې د ه،دعامو وگړو ژوندته یا له سفارت سره نږدي اوسیدونکو خطرپیښوي، خود مخنیوي لپاره د ماموریت رئیس چاته د ننوتلو اجازه نه ورکوي، نود منوونکي یا کوربه هیواد مامورین حق لري چې له اجازي پرته د ماموریت ځاي ته دننه شي، ځکه د دغسي حالاتو کې د ماموریت رئیس د ژمنلیک د۴۱مادې پرخلاف چلن کوي اودننوتلو د اجازي په نه ورکولو سره له خپلوحقوقوڅخه ناوړه گټې په حال کې د کوربه دولت او وگړو امنیت خطرپېښوي.

## دوهم مبحث- په اسلام او نړیوالوحقوقوکې د ډیپلوماتیکي مصونیتنو حدود

که روانه یا جاري رویه دا وي چې قضایی څوندیتوب ټولوهغو حقوقي اعمالو ته شاملیږي، چې ډیپلوماتیکي مامور یې ترسره کوي، نود دې لپاره په کارده چې د دې لپاره یولړ حدود اوپولې هم اوسي چې په ځانگړو مواردو پوري اړه لري.

### لومړی مطلب - په اسلام کې د ډیپلوماتیکي مصونیتنوحدود

په اسلام کې د ډیپلوماتیکي مامورین او استازو ته د خپلو دندو په سمه او واضحه ډول ترسره کولو لپاره مشخص مصونیتونه او حدودورکړل شوي؛ چې خپلې دندې په ارامه اومشخصو حدود کې ترسره کړي.

#### لومړی جز- مدني مصونیتنو حدود

په اسلام کې مدنې مصؤنیت تر ډیره د بالمثل عمل پشان تطبیقیږي. په دي مانا چي که چیري کوربه هېواد د یو بل هېواد ډیپلمات ته ځینې مدنې مصؤنیتونه او مزایاوې ورکول کیږي، دې هم اړ دی چې په خپله دا کار وکړي او د بل هېواد سیاسي استازیو ته هم دا شان مصؤنیت په پام کې ونیسي. په بل عبارت د اسلام له اړخه هم مدنې مصونیت هماغه ډول دی کوم چي نړېوال حقوق یې وایې. په نړېوالو حقوقو کې ډیپلوماتیکي مامورین په مدني دعواو کي هم دخوندیتوب څخه برخمن دي. ددې خوندیتوب په اړه دولتونو اوپوهانو بیلا بیل نظریات درلودل، ځینو مدني خوندیتوب مطلق گڼی او ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخونديتوب مطلق نه گڼی،بلکې د دي خونديتوب ته يې  يوازي د ډيپلوماتيکو اړيکو کنوانيسون دې اختلافاتو ته د پای ټکي کيښودو اوپه مدني دعواو کې يی ډ ډيپلوماتيکي خونديتوب لپاره يو اصل وټاکی. ددې اصل پربنټ مدني خونديتوب گلی دی ولی مطلق نه دی،بلکې د۳۱مادې په لومړی بند پراساس استثناءت لري او دا استثناءت په لاندي ډول دی۱.

الف-هغه مدني دعوه چې په منوونکي هيواد کي عقاريعنی غيرمنقول مالونه سره تړاو ولري۲.

ب-هغه مدني دعوه چې په ترکي يا ارث پوري اړوند وي يعنی په هغه صورت کي چې ډيپلوماتيکي مامورپه منوونکي هيواد کي د نامنقول مال وار ث،وصي اوياموصی له وي.

ج-هغه مدني دعوه چې د ډيپلوماتيکي د شخصي فعاليتونو اوگټو پوري اړوندوی يعنی د يو ازاد فعاليت په اړه دعوه لکه حرفوی سوداگريزفعاليتونه او داسي نور....

پورتنيوذکرشويو مواردو کي د ډيپلوماټ دندو کې نه شميرل کيږي او مصونيت هم نه لري.اوکه چيري اختلافات پيداشول محلي محکمه بايد حل يئ کړی، پر ډيپلوماتيکي مامور باندي هيڅ اجريوي عمليات جرئت نشي کولای، مگرله هغو مواردو پرته د دې مادي په الف، ب اوج بندونو کې يادشول اوپه دې شرط چې دغه اجرايوي عمليات د هغه شخص او د استوگنځي خونديتوب ته کومه صدمه ونه رسوي. دلته په ښکاره توگه کنوانيسون سره په ټکرکي راځي۴۲ماده:ډيپلوماتيکي ماموربه دشخصي گټو په حاطرپه منوونکي دولت کي کوم مسلکي يا سوداگريز فعاليت نه ترسره کوي، څه ډول شونې چې يوخوا ۴۲مادې پراساس ډيپلوماتيکي مامورين نشي کولای د شخصي گټولپاره کوم مسلکي يا سوداگريز فعاليت ترسره کړي اوبلې خواد۳۱مادې پراساس ډيپلوماتيکي مامورينوشخصي فعاليتونه لپاره قواعد وضع کړي دی.۳دغه ښکاره ډول ټکردي، ځکه چې ډيپلوماتيکي مامورينو کورني، اداري کارکوونکي اوفني نمايندگان اوهغو ته نږدي کسان د شخصي فعاليت څخه منع شوي،شونې دا چې چارو باندي مصرفه شي، په دي صورت هغوته مصونيت نه برخمن کيږي.

سربيره پردې بعضوځانگړو ترونونو پراساس د استوونکی اومنوونکي هيوادونو ترمنځ توافق کيږي لپاره وکولای شي منوونکي هيواد کې دخپلې دندې ترڅنگ آزاد فعاليت وکړي. مدني مصونيت توجيه

---

[1] -دويانا ژمنليک(کنوانسيون)د۱۹۶۱ل.کال،د اپريل۱۸مه۳۱مه ماده.

[2] - ذوالعين،پرويز.حقوق ديپلوماتيک دفتر مطالعات سياسی وبين المللی – تهران وزارت امور خارجه۱۸۹ص۳۶۱.

۱- دپورتنۍ ماخذ، ۱۷۱مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيپلوماتيکي مامورين لپاره همدا دلايل په جزايي مصونيت کي هم شته.اوکه چيري ډيپلوماتيکي مامورينو مدني مصونيت نه درلودلي.عادي افرادو هرډول دعوه اوتيرى لاندي راتللي شي. اوپه ډيپلوماتونو دعادی افراد په شان معاملاتو باندي لاس پوري کولود۳۱مادې لومړی بند پراساس پورته ذکرشوي په منوونکي هيواد کې د خپل اتباعو او افردو منافعو ساتنه يا په هغه صورت کي چې تعدی اوتجاوز د ډيپلوماټ لخوا په غيرمنقول او ارث او سوداگريزو چارو ترسره کولو په صورت کي محلي مکمي ته عريض شي د هيوادونو ترمنځ په خصوصي تړونونو ډيپلوماتيکي مامورين مصونيت لري او ډيپلوماتيکي مامورين اخلاقا مکلف دي او دمنوونکي هيواد سره پورته له شکايته خپلې اړيکي تنظيم کړي، ډيپلوماټانو په عمل کي ثابته کړي ده چې ډيره کمه کچه د نورو په حقوقو تيرى باندي اختلافات پيداشوي.

ولې غوره داچي مدني مصونيتونه په تړونونوکي قيداوشرط پراساس وضعه شي. اوقضايى مدني مصونيتونو په مواردو کي پوښتنه رامنځته کيږي. که چيري ډيپلوماتيکي مامورين د خپلې دفاع لپاره ادعا يا دعوه مخکي کوي يا دمصونيت نه سرغړونه کوي؟ په دي برخه کي مصؤنيت د استوونکي دولت حق نه د شخص د۳۲مادې پراساس د مدني او ادارې دعواووډ قضايى خونديتوب سلبيدل، د حکم د اجراء په اړه د خونديتوب سبليدني متضمن نه دي، دهغه اجراء په اړه د خونديتوب سلبيدني بيل اړين دى. په هغه صورت کي چې د ډيپلوماتيکي مامور يا هرهغه شخص لخوا دعوه اقامه شي،نو د متقابل شخص له دعوي سره د مخ کيدنى په صورت کي چي له اصلى دعوې سره مستقيمه اړيکه ولري پرخپل قضايى خونديتوب استناد نشي کولای لکه څرنگه په جزايى مصونيت کي وويل شول مدني او ادارې مصونيت دي دليل پراساس چې مجازاتونه معافيت نه بلکې مدعي کولای شي چې دکوربه هيواد د بهرنيو چارووزارت له لارې او د استوونکي هيواد د بهرنيو چارو وازرت ته شکايت وکړي ياپه مستقيم ډول کولای شي د استوونکي هيواد محکمې ته اسناد اومدارک وړاندې کړي.د ماموريت رئيس نشي کولاي قضاوت او مجازاتو ورکړي، ځکه چې دغه حق د منوونکي دولت له حاکميت پوري اړونده دي دثبوت يا دجرم تحلف په صورت کي سفير کولای شي چي خپل دولت مدارک اودلايل ارسال کړي ترڅو صلاحيت لرونکي دولت له محکمي لخوا حل شي. د۳۷مادې پراساس ډيپلومات، ډيپلوماتيکي مامورين اوخپلوان ادارې او مدني مصونيت څخه برخمن دي. ولی اداري کارکوونکي اوفني نمايندگان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خپلوان يئ داداري او مدني مصونيت څخه نشي برخمن کيدي د۳۷مادې د دوهم بند پر اساس د ماموريت اداري اوفني کارکوونکي اوهمدارنگه په دوي پوري تړلي کسان چې د کورنۍ غړي يي دی، له ټولو هغو خونديتوبونو څخه برخمن دي په مدني او اداري چاروکې د منوونکي دولت له مقاماتو څخه د خونديتوب موضوع ئي د۳۱مې مادې په لومړي بند کي راغلی حکم سره سم له دندې بيرون نه گڼل کيږي.

**دوهم جز- قضايي مصونيتونو حدود**

د قضايی مصؤنيت په برخه کې اوسني نړيوال حقوق او اسلامي فقه په خپلو کې يو توپير لري.اوهغه داسې چې اسلامې فقهاء په اسلامې خاوره کې پناه اخيستونکی شخص اوياهم سياسي استازی دقضايي اعمالو او يا جرايمو په ارتکاب سره په درالا کې د مواخذې اوياهم محاکمې وړگڼې او داځکه چې سياسي استازی بايد له استثنايی مواردو پرته (لکه مذهبي مراسم اويا ځينې نوراحکام)نورپه ټولوبرخوکې داسلامي قانوناو احکامو پابندوي.

امام اوبوخنيفه رح وايی چې سياسي استازی په درالاسلام کې په هغوجرايمو کې چې حقوق الله دي لکه زنا اويا نورو کې له مواخذې اومحاکمې مستثنی دی ولې په هغوجرايمو کې چې حقوق العباد دی دمواخذې او محکمې وړ دې لکه قصاص. اسلمي هېوادونه کولای شي دوخيمو جرايمو دارتکاب په صورت کې سياسی استازی آن په جبري ډول له خپلې خاورې وشړې اوهغه نامطلوب عناصر اعلان کړې او که چيرې اسلام هېواد يې د هيواد له لپاره دسولې او امن په گټې وې کولای شي چې مجرايم تعقيب او ونيسي. اسلام سپيڅلي دين د ډيپلوماتانواواستازو لپاره په مشخصو حدودو کې خونديتوب ورکړې دی لاندنېو حدود ورکړی دی د ذکرکولو وړدي.

الف-هغه کړنې ډيپلوماتيکي استازي يې د خپل دولت په استازيتوب اويا بل کومې دولتي موسساتو لخوا ترسره کيږي چې په نړيوالو حقوقوکې ظاهيږي.

ب- هغه کړنې يا سلوک چې ډيپلوماتيکي استازي ترسره کوي. داستوونکي دولت داخلي مقرارتو پوري اړوند وي. يا د استونکي دولت اسرارافشا کول، يا جوسوسي عليه دولت پدې صورت کې قضايي مصونيت نه مطرح کيږي موضوع بايد د استوونکي دولت له لوري بررسي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج-هغه کړنې یا اعمال چې عادي وګړې یې پرمخ بیایی او هغه دندې سفیر پرمخ بوځي دلته قضایې مصونیت نه مطرح کیږي.

## دوهم مطلب - په نړیوالو حقوقوکې د ډیپلوماتیکي مصونیتونو حدود

په نړیوالو حقوقوکې هم لکه څرنګه چې د ډیپلوماتانو ته مصونیتونونه اوامتیازات ورکړل شوي په منظمواو مشخصو حدودو قواعدو اومقرارتو کې خپلې کړنې اوسلوک ترسره کړې. چې د سرغړونې په صورت کې قضایی اوجزایي عکسل العمل سره مخ کیږي.

### لومړی جز-په نړیوالو حقوقو کي د ډیپلوماتیکي مصونیتونو قضایی حدود

که روانه رویه دا وي چې قضایي خوندیتوب ټولو هغو حقوقي اعمالو ته شاملیږي، چې یو ډیپلوماتیکي مامور یې تر سره کوي، نو د دي لپاره یو لړ حدود اوپولي هم اوسي چې په ځانګړو مواردو پوري اړه لري. لکه په لاندي ډول[1].

الف- د نامنقولو مالونو په تصرف او مالکیت پوري اړونده دعوا

نامنقول مالونه اصولا د هغه ځای د قوانینو تابع دي چیرته چې شتون لري. که چیري یو نامنقول ملک په منوونکي هیواد کې د سفارت استوونکي دولت په نوم اوسي یا یې هم دنماینده کی په نوم وپیژندل شي. نو بیا بهرنې دولت پوري اړه لري او هر وخت له قضایی خوندیتوب څخه برخمن دی. خو که چیري دغه نا منقول مال خپله ډیپلومات په نوم د خپل ځان لپاره اخیستي وي؛نو خوندیتوب نه لري. د ویانا ژمنلیک۳۱مادې تصریح کوي، دغه ډول دعوې په خوندیتوب کي نه راځي،مګر کله چې ډیپلوماتیک مامور خپل نامنقول مال د خپل دولت په حساب کي او یا هم د ماموریت په نوم ولري.

**ب د ارث په اړه دعوې**

په هغه صورت کې چې ډیپلوماتیکي مامور په منوونکي دولت کې د نامنقولو مالونو وارث، وصي اویا هم د متصالحو(د حق، ملکیت، امیتاز او میراث اخیستونکی)یا ترکې اداري مدیر وي، نو په دې صورت کې په قضایي خوندیتوب کې نه شاملیږي.

---

[1] -بصیرت،پوهندوی ع نبی.ډیپلوماتیک او کونسلی حقوق،ځپرندویه سلام ځپرندویه ټولنه.جلال آباد۱۳۹۶مخ۶۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ج – د يو ازاد فعاليت په اړه دعوا**

که چيري يو ډيپلوماتيکي مامور په شخصي توگه(په خپل نوم نه)له خپلې رسمي دندې پرته په منوونکي هيواد کې ازاد سوادگريز فعاليت ولري، نو په دغه ډول فعاليت پوري اړونده دعوو کي له قضايي خونديتوب نشي برخمن کيدي. په دغو پورته دريواړو مواردو کې د منوونکي هيواد د محاکمو احکامو د اجرا وړ دي؛ خو پر دې شرط چې په دې احکامو کې خپله د ډيپلومات شخصيت ته او کورنۍ ته کوم زيان نه وی متوجي.

**دوهم جز- په نړيوالوحقوقود ډيپلوماتيکي مدني مصونيتونو حدود**

ډيپلوماتيکي مامورين په مدني دعواو کي هم دمصؤنيت څخه برخمن دي. ددې مصؤنيت په اړه دولتونو او پوهانو بيلا بيلو نظرياتو درلودل،ځينو مدني مصؤنيت مطلق گڼي او ځيني دا مصؤنيت مطلق نه گڼي،بلکې دې مصؤنيت ته يوازې د ډيپلوماتيک مامورين د دندې په اجراء کې اعتبار ورکوي.بلکې استثناءت هم لرې په په لاندينيو حالاتوکې مدني مصونيتونه وجود لري١ .

الف-د هغه خصوصي غيرمنقولو اموالو مربوط دعواوې کومې چې د منوونکي هيواد په قلمروکې موقعيت لري،لکه د هغوي د ملکيت اوتملک دعواوې.

ب-د هغه ترکه شويو اموالو مربوطه دعواوې ،چې ډيپلوماتيک مامور په خصوصي ډول په هغې کې د وصي، امين، وارث،اويا موصي له په حيث تعين شوی وی.

ج-په منوونکي هيواد کې د خصوصي تجارتي اويا حرفوي فعاليتونو مربوطي دعواوې چې د ډيپلومات لخوا سرته رسيدلي وي.البته دا مصونيت په دغه حالاتو کې نفي کيږي، کومو ته چې پورته اشاره وشوه، چې سفير يا ډيپلومات په خصوصي ډول د يوعادی فرد په حيث په دې مسايلو کې مطرح وي اوکه چيري دا دعواوې د ده د دولت لخوا مطرح وي يانې خصوصي دعوې نه وي په دې صورت کې مصونيت په خپل ځاي باقي پاتي کيږي.

البته دا مصؤنيت په دغه حالاتو کې نفي کيږي، کومو ته چې پورته اشاره وشوه، چې سفير يا ډيپلومات په خصوصي ډول د يو عادي فرد په حيث په دې مسايلو کې مطرح وي او که چيري دا دعواوې د ده

- پورتنۍ ماخذ مخ ۶۲. ١

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت(ليږونکي دولت) لخوا مطرح وی يعني خصوصي دعوې ته وي نو په دې صورت کې مسؤنيت په خپل ځای باقي پاتې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله اخیستنه

غواړم په دې برخه کې په لنډ ډول د دې څیړنې پایلې په لاندو ټکو کې بیان کړم.

ډیپلوماتیکي مناسباتو هېوادونو اوسازمانونو په رسمیت پیژندلي؛ ډیپلوماتیکي اوکنسولي استازو لپاره امتیازات دي. په دې ډول کوربه هیواد کې د بل هیواد استازو اوډیپلوماتیکي هئیت لپاره خوندیتوب مسله ده؛ چې کوربه هیواد د بل هیواد ډیپلوماتیک هیئت ته یوه برخه ځمکه د سیاسي چارو د اجرا کولو لپارچې هلته سفارتخانه جوړه کړي؛ په واک کې ورکوي؛ ډیپلوماتیکي خوندیتوب د ټولوډیپلوماټانو لپاره مهم اوغښ امیتاز دی؛ چې د دوی په واک کې ورکړل شوي دي، مصؤنیتونه په دې خاطر ډیپلوماتیکي استازو ته ورکول کیږي چې ورسپارل شوي دندې په ښه صورت ترسره کړئ. دغه خوندیتوبونه د دولتونو له لوري ډیپلوماتیکي د دې لیاره ورکوي.

چې خپلې منافعي او اهداف لاسته راوړي په کوربه هېواد کې، د خپلو اتباعو حقوقوڅخه دفاع وکړي. اومصونیت لرونکي اشخاصو ته په کاردي؛ چې په منوونکي دولت قوانین اومقرارت رعایت کړئ. د منوونکي دولت په کورنیو چارو کي مداخله ونه کړئ، همدارنگه دغه دوه اصلونه راعایت کړي د مصونیتو څخه ناوړه گټه پورته نه کړې او ورسپارل شوی دندو اومصؤنیتونه څخه ناوړه گټه پورته نه کړي. د نامطلوب عنصر اوسلب مصونیت حتي د اړیکو پري کولولامل هم کیدای شي. ځکه چې د مصونیت څخه ناوړه گټه کول شخص نامطلوب اعلانیږي. د مصونیت سلب اجباري کیږي او باید ډیپلوماتیکي قواعد اومقرارت راعایت شي چې ناوړه گټه ترې ونه اخیستل شي، ښیي پایلي ښیي ونه لري.

دا چې په اسلام کې ډیپلوماتیکي دندې موقتي وي د اصحابو او مشرانو په کورونو اوجوماتونونو کي ساتل کیدل، بیاهم په اسلام کې پراخه مصونیت درلودل؛ ډیپلوماتیکي مامورین پوره خوندیتوب څخه برخمنول او دهغه د ځاني، مالي او خوندیتوبونه څخه برخمن اوپه درنه سترگه ورته کتل کیدل. ډیپلوماتان په منوونکي هېواد کې په سیاسي، قضایي او مدني کړنو کې مصؤنیتونو څخه برخمن دي او هیڅوک د اجازي پرته سفارتځي یا د سفارتې وسایلو پلټلولو او ننوتلو حق نلري، منوونکي هېواد باید داستوونکي هېواد ډیپلوماتیکي مامورینو لپاره د مصؤنیت لپاره لازم اقدامات او تدابیرات ونیسي تر څو په مصؤنیت کې خپلې دندې ترسره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ډول مصئونيت دلايلو سره سم، دا يادونه کيدی شي چې ډيپلوماتانو او کارکوونکوته اجازه ورکوي چې په کوربه دولت کې خپل دندې ترسره کړي پرته له ډار او ويره د بشپړ آزادی او خپلواکۍ سره لړۍ او قواعد د هغو هيوادونو ترمنځ چې په ډيپلوماټيک مصؤونيت کې تنظيموي په عمومي توګه رامينځ ته شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخیستنې

**القرآن الکریم**

**الف) کتابونه**


۱-.ابوالوفاء، قانون الدبلوماسی الاسلامی،غنمی،قانون الاسلام فی الاسلام، مکتبت الرشاد،۱۴۲۲.

۱-بصیرت، پوهندوی ع نبي، ډیپلوماتیک اوکونسلي حقوق، اسلام خپرندویه ټولنه، جلآباد، لومړی چاپ،کال۱۳۹٦ل.

۱-پورامینی،محمدحسین.اسلام وحقوق دیپلوماتیک.نشریه،سازمان مطالعه وتدوین کتب علوم انسانی دنشگاهها(سمت)مرکزتحقیق وتوسعه علوم انسانی ودانشگاه علوم اسلامی اصول چاپ اول زمستان تهران چاپ اول۱۳۹۳.

۲- صدر، جواد، ډیپلوماټیکي اوکونسلي حقوق، ژباړه:هجرات الله اختیار، گودر خپرندویه ټولنه، ننگرهار، چاپ دریم، کال۱۳۹۵ل.

۲-ابوعمر،قادسانی،عودت التشریخ الجنائي الاسامی مقارنا بالقانون الوضمی عهد،۱۴۲۳.

۲-ذوالعین،پرویز.حقوق دیپلوماتیک دفترمطالعات سیاسي وبین المللی ـتهران:وازارت امور خارجه چاپ وانتشارات۱۳۸۹.

۳،ابویوسف،الخروج ،اقاهره،مکتبت الاهز،۱۴۳۰.

۳-زخلیي، وهبه، نړیوالې اړیکې داسلام اونړیوالو حقوقوپرتلیزه لوستنه، ژباړه:معراج الدین امینزي، یارخپرندویه ټولنه، جلال آباد،چاپ کال۱۳۹۵ل.

۳-یونسی،محمد.لکچرنوت،حقوق بین الملل عمومی.پوهنځي حقوق وعلوم سیاسی. پوهنتون جهان،۱۳۹۷.

۴-بیگدلی،ضیایی.حقوق بین المللی عمومی،تهران،لومړي ټوک.گنج دانش خپرندوی۱۳۸٦.

۴-سیدالناس،عیون الثر،مکتبت الشام،۲ج،۱۴۳۳.

۴-صدر، جواد، ډیپلوماټیکي اوکونسلي حقوق، ژباړه:هجرات الله اختیار، گودر خپرندویه ټولنه، ننگرهار،چاپ دریم،کال۱۳۹۵ل.

۵-انظم، منجد الدبلوسی فی السلام، الکویت، مکتبت الشاملیه،۱۴۱۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵-سلطانی،محمد ادریس.لکچرنوت ،حقوق دیپلوماتیک وکونسلی پوهنځي حقوق وعلوم سیاسی. پوهنتون جهان۱۳۹۷ .

۵-نعیمي، گل احمد، ډیپلوماسي اومذاکرې فن، مومندخپرندویه ټولنه، ننګرهارچاپ لومړي کال ۱۳۹۴ل.

٦- صدر،جواد.حقوق دیپلوماسی وکنسولی ،تهران خانه کتاب خپرندویه.۱۳۹٦ .

٦-داوري، فرهاد، د ډیپلوماټیکي لارښود، د مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، چاپ لومړی چاپ کال۱۳۹۳ل.

۷-بصیرت،پوهندوی ع نبي.ډیپلوماتیک اوکونسلي حقوق.خپرندویه سلام خپرندویه ټولنه،جلال آباد.لومړی چاپ،کال۱۳۹٦ل.

۸-اخندزاده،عبیدالله.عمومي نړیوال حقوق.چاپ څپرندویه اکسوس کتابپلورنځی،کابل۱۳۹٦ .

ب)په فارسي ژبه

ج) په عربي ژبه

الف)په پښتو ژبه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**